

# د کامیابۍ خبرې

ژباړه: نجیب الله خان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د کتاب پېژندنه:**

---

ژباړه او راټولونه: نجیب الله خان

www.facebook.com\Najibullah khan

ایمېل: Najeebulla@yahoo.com  Najibullahk909@gmail.com

کمپوز: شفیق خان

د پښتۍ ډیزاین: حیات الله ژوند

د چاپ حقوق خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# (۱)

•خپل لرګي په خپله ماتوه؛ تاسو به دوه ځله ګرموي. لومړی کله چې لرګي ماتوئ دوهم کله چې بخارۍ کې يې سوځوئ.

•مینه دا نه ده؛ چې تاسو یو چاته څه وایاست؛ بلکې دا ده چې تاسو د یو چا لپاره څه کوئ.

• که د یوه هیواد په لارو او کوڅو کې امنیت نه وي؛ د هغه هیواد خپلواکي بې معنا ده.

نیلسن منډیلا

•خوب تر ټولو ښه شی دی؛ ځکه تاسو د یو څه وخت لپاره هر څه هیروئ.

•غوصه کوونکي خلک همیشه هوښیار نه وي.

جان اوستین

•که تاسو خوابدي وئ؛ نو تاسو په ماضي کې اوسېږئ. که اندیښمن یاست؛ نو تاسو په راتلونکي کې اوسېږئ.که تاسو ارامه یاست؛ نو تاسو په حال کې اوسېږئ.

لیو زو

•کله چې خوشاله وئ؛ د سندرې له سازه خوند اخلئ. خو کله چې خفه وئ؛ د سندرې له شعره خوند اخلئ.

•ژوند ډېر عجیب او غریب دی. کله چې ماشومان وئ، غوښتل مو چې لویان شئ، خو کله چې لویان شوئ، غواړئ چې ماشومان شئ.

•د نورو پېژندنه؛ ستا ځیرکتیا ده. د خپل ځان پېژندنه؛ ستا هوښیارتیا ده.

په نورو تسلط لرل؛ ستا پیاوړتیا ده. په خپل ځان تسلط لرل، ستا ریښتنی قدرت دی.

لاو زو

•که ښځې نه وی؛ دا د نړۍ نابغه ګان به چا روزلي وی؟

ناپلیون بناپارت

(c) ketabton.com: The Digital Library


•هغه وخت خبرې وکړه؛ کله چې پوه شې، چې زما خبرې زما د چوپ پاتې کېدلو څخه غوره دي.
•ځینې خلک چې خوشاله وي، ډېرې خبرې کوي. خو کله چې خفه شي، هیڅ خبرې نه کوې.
•تیروتنې ستا د محنتونو او کوښښونو ثبوتونه دي.
•ځینې خلک د ډبرو په لټون کې الماس بایلي.
•له مبارزې پرته پرمختګ ناشونی دی.
•یوه موخه بغیر له پلانه یوازې یو ارمان او هیله ده.
•په ژوند کې څلور شیان مهم دي:
١- مینه
٢- صداقت
٣- ریښتیا
۴- عزت ،که دغه څلور شیان ونلرئ، نو په ژوند کې تاسو هیڅ هم نلرئ.
•د خپل زړه منه، لیکن له دماغو هم کار اخله.
الفرد اډلر
•موږ هیڅکله هم ماضي نشو بدلولی، لیکن موږ کولی شو چې د ژوند یو نوی فصل شروع کړو د یوه خوشاله خاتمې (پای) سره.
• ژړل یعنې ستا د زړه هغه خبرې چې درد یې تاسو یې په شونډو اظهار کولی نشئ.

## (٢)

•که زما سره مینه لرئ نو زه به تل ستاسو په زړه کې وم. که زما څخه نفرت لرئ نو زه به تل ستاسو په ذهن کې وم.
ماته توپیر نه لري چې تاسو له ما نفرت کوئ یا زما سره مینه لرئ.
ویلیام شکسپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library


•ناکامي د کامیابۍ متاضده کلمه نده، بلکې د کامیابۍ یوه برخه ده.
•که غواړئ د خپل ژوند کیسه ولیکئ نو چاته اجازه مه ورکوئ چې بل څوک مو قلم په لاس کې ونیسي.
•که غواړئ چې ملګرتیا مو تلپاتې وي:
١- هیڅکله یو بل ته دروغ مه وایې
٢-هیڅکله یو بل ته دوکه مه ورکوئ.
٣ هیڅکله یو بل ته داسې وعدې مه ورکوئ؛ چې پوره کولی یې نه شئ.
•که چیرې تاسو تر ټولو ښه وخت ته انتظار باسئ؛ نو تاسو به هیڅکله هم څه ترسره نه کړئ.
•مینه څه ته وایي؟
کله چې تاسو د یو چا سترګو ته وګورئ او د هغه په سترګو کې هر هغه څه ووینئ؛ کوم چې تاسو یې غواړئ.
•که چېرې په ژوند کې مو هیڅکله هم دخوسا مڼې خوند نه وي څکلی؛ نو تاسو د یوې ښې مڼې په ارزښت هیڅکله هم نشی پوهیدلی.
تاسو په ژوند کې باید تجربې وکړئ، تر څو په ژوند پوه شئ.
•ژوند د یو کتاب په څېر دی. ځینې فصلونه یې غمجن، ځینې یې خوشاله، او ځینې ډېر په زړه پورې دي.
که د کتاب صفحې ونه اړوئ؛ تاسو به هیڅکله هم پوه نشئ چې راتلونکي فصل کې څه دي.
• اخلاق شتمني ده.تر ټولو لویه او بهترینه شتمني؛ چې موږ یې لرو.
برتراند راسل
• د زړه احساس د منطق څخه لوړ دی.
برتراند راسل
•ستاسوسلوک او کړه وړه د پنچر ټایر په شان دي.
تر هغې تاسو هیڅ ځای ته نه شی رسیدلی تر څو چې مو بدل کړی نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•د پوستي محصول د ټيکټ په څېر شه، تر هغې پورې خپلې موخې پورې کلک ونښله تر څو چې خپل ځای ته نه وې رسیدلی.

• هڅه نه کول د ناکامۍ لومړۍ پوړۍ ده.

•فکر وکړه؛ فکر کول وړیا دي.

ویلیام شکسپیر

•په ځمکه باندې کامل جنت نشته، لیکن یوه ټوټه یې شته.

جولیس ریناړډ

•په بې خطره ځای کې زړور اوسیدل اسانه دي.

ایسوپ

• له مور او پلار سره هغه ډول چلند وکړه؛ چې له خپلو اولادونو یې تمه لرئ.

سقراط

• د هوښیارتیا دروازه د خپل ځان پېژندنه ده

•ویره د مینې دښمنه ده.

اګوستین

• د خپلې کامیابۍ په اړه خبرې او د ناکامۍ په اړه اندیښنه هیڅکله هم مه کوه؛ دا دواړه ستا په راتلونکو کارونو اغیزه کوي.

په خپل ځان باور ولره، حرکت وکړه او ژوند کې کامیابي ترلاسه کړه.

•فکر کول د ټولو شتمنیو، کامیابیو، لاسته راوړنو، کشفیاتو، او موندنو تر ټولو لویه منبع او سرچینه ده.

کلوډ بریستهول

•که سپي ته مو ډوډۍ ورکړه؛ نو درې کاله مو احسان نه هیروي.

که یو انسان ته مو درې کاله ډوډۍ ورکړه؛ په دریو ورځو کې یې له یاده باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۳)

•ذهن د پراشوټ په شان دی تر هغې کار نه کوي، تر څو چې خلاص شوی نه وي.
فرانک زفا

• باور په په دغه نړۍ کې تر ټولو قیمتي څیز دی ځکه چې دلاسته راوړلو لپاره یې کلونه تیریږي خو کله ناکله یې په یو څو شیبو کې هم له لاسه ورکولی شو.

•د بل چا په خبرو د یو چا په اړه هیڅکله هم قضاوت مه کوه.

•هغه ناکامي چې له تاسو څخه عاجز او خاکساره شخص جوړوي؛ له هغه کامیابۍ غوره ده چې له تاسو څخه مغرور او متکبر شخص جوړوي.

• ایا تاسو پوهېږئ چې د انسانانو د گوتو ترمنځ خالي گاوې الله پاک ولې پیدا کړي؟
هو، ددې لپاره چې تاسو ته هغه څوک چې ډېر گران وي راشي او ستاسو لاسونه د تل لپاره ونیسي.
او دغه خالي گاوې ډکې کړي.

• ادب د عطرو په شان دی. موږ د ځان له لپاره ترې گټه اخلو لیکن د هغه له خوشبویۍ څخه نور هم برخمن کېږي.

• بې هدفه کسان مجبور دي چې د تل لپاره د هدف لرونکو کسانو لپاره کار وکړي.

•ماضي ته بدلون نه شو ورکولای،نه یې هیرولای شو او نه یې اصلاح کولی شو خو پاک کولی یې هم نه شو.
خو موږ کولی شو چې د هغې نه عبرت او درس واخلو.

•یو ورځ به تاسو گورئ، چې تاسو په ماضي یو نظر تېر کړئ.تاسو به محسوس کړئ چې تاسو د هغه څه لپاره ډیرې اندیښنې او سوچونه کول چې هېڅ د اندیښنې وړ او لایق نه وه.

•هیڅوک هم په خپله ریښتینې پیاوړتیا نه پوهېږي.

• معمولي انسانان یوازې هیلې او امیدونه لري؛ خو موفق انسانان موخې او پلانونه لري.
برایان ټریسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



• که چیرې کوم ځای مو خوښ نه شو، نو بدل یې کړئ
تاسو ونه، نه یاست.
جیم ران
• یو ځل دروغ ویل ستا ټول ریښتیا تر پوښتنې لاندې راولي.
• زما په قاموس کې د ناشونې کلمه نشته.
ناپیلیون بناپارټ
•ځینې شیان تاسو په  سختو حالاتو کې هم زده کولی شئ.
جویل اولیسټن
• مورې وینو چې دا نړۍ څومره له دردونو او کړاوونو ډکه ده خو بیا هم مورې واده کوو.
دې ته مینه وایي.
•خیرن لاسونه د حلالو پیسو نښه ده.
•د نرم او مهربانه زړه خاوندان بې عقله او احمقان ندي،
دوی پوهېږي چې خلک ورسره څه کوي خود نورو له خطاګانو ورتېریږي.
په وار وار هغو ته بښنه کوي،خو دوی د ډېر ښکلي زړه خاوندان دي.
• دخوشاله کورنۍ درلودل هر څه دي، هیڅ اندیښنه مه کوئ، که شتمن نه یاست.
•باور د کاغذ په څېر دی، که یو ځلې قات شي، بېرته لومړني حالت ته نه راګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۴)

•ځوانان پنځه شيان خرابوي:

۱- ډېرې پيسې او شتمني

۲- شهوت

۳- بيکاري

۴- بد ملګري

۵- خرابه محيط

• ځينو خلکو ته هيڅ انتظار مه کوئ، که دوی په ريښتني توګه غوښتل چې ستاسو شي، له پخوا به ستاسو ول.

مارک ايزت

• ستاسو ژوند په تصادفي توګه نه ښه کېږي؛ بلکې د بدلون پواسطه ښه کېږي.

جيم ران

• د پوښتنو په کولو خوښ شئ؛ ليکن د ځوابونو په هکله هم ډېره انديښنه مه کوئ.

پاويلو کويلو

• جنت هلته وي؛ چېرته چې ظلم او ازارول نه وي، يو کس د بل کس سره کار نه لري.

• تاسو به هيڅکله هم ژوند ته بدلون ور نه کړئ تر څوچې مو په ورځنۍ چارو کې بدلون نه وي راوستلی.

ستا د بريا راز ستا په ورځنيو چارو کې موندل کېږي.

جان سي ماکسويل

•هيڅکله هم دا اجازه مه ورکوئ، چې ستاسو ارمانونه يوازې خوبونه پاتې شي.

• بغير د مينې او ليوالتيا تاسو هيڅ انرژي نه لرئ بغير د انرژۍ تاسو هيڅ هم نه لرئ.

ډونالډ ټرمپ

(c) ketabton.com: The Digital Library


• زه د کامیابۍ او بریا په اړه خوبونه نه وینم، بلکې د هغو لپاره کار کوم.

ایستېل لوډر

• چیرته چې ژوند وي؛ هلته هیلې او امیدونه هم وي.

ستېیفن هاکینګ

• ولې ژوند مو مشکل او له ستونزو ډک دی؟

۱- یو څوک دې یادېږي؟ خو زنګ ورته وواهه.

۲- غواړې یو څوک ووینې؟ خو بلنه ورکړه.

۳- غواړې یو څوک وپوهوې؟خو هر څه ټکي په ټکي ورته ووایه.

۴- په ذهن کې پوښتنې لرئ؟ خو له نورو یې وپوښته.

۵- کوم څه مو نه خوښیږي؟ خو د هغه په اړه پریکړه وکړه.

٦- کوم څه غواړئ؟ خو غوښتنه یې وکړه

۷- له چاسره مینه لرې؟ خو ورته دا مینې اظهار وکړه.

په دې دنیا کې موږ یوازې یو ژوند لرو، ولې یې په ښه توګه نه کوو.

•له یو عالمه یې وپوښتل:

دا دې دوو جملو تر منځ څه توپیر دی؟

– زه در سره مینه لرم.

– زما خوښه شوې یې.

عالم جواب ورکړ:

کله چې تاسو یو ګل خوښوئ، یوازې د ډنډره یې را پرې کوئ، خو که د ګل سره مینه لرئ، هغه ته همیشه اوبه ورکوئ، تر څو تازه واوسي.

څوک چې په دې راز پوه شي، هغه د ژوند کولو راز موندلی.

•ملګرتیا د مرغۍ په څېر ده؛ که ډېره کلکه یې ونیسئ، له منځه ځي.

که ډېره سسته ونیسئ، الوزي او له لاسه مو وځي.

که په پام سره یې ونیسئ، د تل لپاره درسره پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


• د سینګار کولو تر ټولو غوره شیان په ژوند کې:

۱- د شونډو لپاره: رښتیا

۲- د سترګو لپاره: همدردي او خواخوږي

۳- د مخ لپاره؛ موسکا

۴- د زړه لپاره؛ مینه

۵- د اواز لپاره ؛ دعا

٦- د لاسونو لپاره؛ صدقه

• که ژوند کې مو درې شیان له لاسه ورکړل؛ بیا لاسته راوړل یې سخت دي: عزت، ملګري او باور

•کوچني ماشومان خپل خدای ته ډېر نږدې وي لکه ځنګه چې وړې سیارې لمر ته نږدې وي.

•موسکا کوه تر ټو ټول پوه شي؛ چې د تیرې ورځې ځخه تاسو ډېر ځواکمن یاست.

•کله چې ماشومان وغواړي چې تاسو سره خبرې وکړي او خپلې ستونزې تاسو ته ووايي نو هر ځه پرېږده او دوی ته غوږ ونیسه،

ددې ځخه بل هیڅ ارزښتمن ځه نشته.

• تاسو په ژوند کې داسې هیڅ ځه هم نشته چې بدلون پکې را نه شي.

کارولین میس

• تاسو به شاید فکر کوئ، چې میرمنې ستاسو موټر، ستاسو پیسې او ستاسو سوغاتونه غواړي.

خو داسې نده؛ ریښتینې میرمنې ستاسو وخت، ستاسو ایمانداري، صداقت او موسکا غواړي.

نو دغه شیانو ته لومړیتوب ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۵)

•عملي کار کول د ټولو برياوو بنسټيزه کونجي ده.
پابلو پيکاسو
• زموږ د ژوند لومړی هدف د نورو سره مرسته کول دي.
که چېرته مرسته ورسره نه شو کولی؛ لږ تر لږه بد خو ورسره ونه کړو.
دالای لاما
• تر ټولو غوره شتمني هوښيارتيا ده.
•تر ټولو غوره وسله صبر دی.
•تر ټولو غوره ساتونکی ايمان دی.
•ترټولو غوره ساز خندا ده.
خو د حيرانتيا وړ ده چې دا ټول وړيا دي.
• که کله خوب نه درځي؛ نو دا خبرې ځان ته وکړه:
– ګرانه ذهنه!
مهرباني وکړه نور دا ډېر فکر کول بس کړه.
شپه ده، زه خوب ته اړتيا لرم.
•ژوند د کتابچې په څېر دی. دوه صفحې يې له مخته نه د خالق لخوا ليکل شوي وي.
لومړۍ صفحهٔ: يعني ستا زېږدنه.
دوهمه صفحهٔ: يعني ستا مړينه.
منځنۍ صفحې يې تشې دي، دا ستا په واک کې دي چې هر ډول يې ډکوئ.
خو هڅه وکړه، چې په مينه او موسکا يې ډکې کړې.
•که غواړئ لوړ مقام ترلاسه کړئ؛ کوچنی فکر کول مو بس کړئ.
•ناکامي د ټولو برياليتوبونو مور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•که د یو څه پوهیدلو لپاره هیڅکله هم هڅه ونه کړئ؛ نو هېڅکله به په څه پوه نشئ.

• ریښتني ملګرتیا دې ته وايي: چې یو بل ته هر شی او هر څه وايئ ترمنځ مو کوم دروغ او رازونه شتون ونلري.

• د ژوند تر ټولو سخت امتحان د ښه وخت راتلو ته انتظار او صبر کول دي.

•له حده ډېر په چا باور مه کوه، له حده ډېر د چاسره مینه مه کوه. له حده ډېرې هیلې مه لره. ځکه دا د حده ډېر ډېر به تاسو تر ټولو ډېر ودردوي.

•که یو ځل مو د لرې ځای څخه اوبه راوړې، تاسو ته به د اوبو د هر څاڅکي ارزښت معلوم شي.

• په ژوند کې ډېر شیان وړیا دي: کورنۍ، دوستان، ملګري، موسکا، خندا، مینه او ښې خاطرې...

•که غواړئ چې قوي واوسئ نو تاسو باید په پوازیتوب سره جنګیدل زده کړئ.

• کله چې تاسو لوړ الوځئ، خلک درپسې ډېرې ګوزاروي.

لاندې مه ګوره نور هم لوړ والوځه تر څو ډېرې درپسې در ونه رسیږي.

چیتان بهګت

• دوی په ما پورې خاندي، چې زه د دوی څخه توپیر لرم خو زه په دوی پورې خاندم ځکه چې دوی ټول ماته یوشان ښکاري.

• د خوشاله اوسیدلو تر ټولو ساده طریقه دا ده چې هغه شیان ایسته وغورځوه، کوم چې تاسو خواشینی کوي.

•که تیاره نه وي نو ستوري هم نه شي ځلیدلی.

• د ریښتیا ویونکي په اندازه هیڅوک هم دومره کرکه کوونکي نه لري.

افلاطون

• هیلې او ارمانونه درلودل د کامیابۍ لومړۍ پوړۍ ده خو د هغې لپاره عملي کار کول یې دوهمه پوړۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦)

•ژوند دوه قوانین لري:
١-هېڅکله ستونزو ته مه تسلیم کېږئ.
٢- لومړی قانون تل په یاد ولرئ.
•تر ټولو لویه تحفه چې تاسو يې خپل ملګري ته ورکولای شئ؛ ستاسو وخت، ستاسو مینه، ستاسو علاقه او توجه ده.
•هغه ملت چې کتاب نه وايي باید ټول تاریخ تجربه کړي.
•که له خوبه پاڅېږئ او موخه نه لرئ نو بېرته ویده شئ.
•د منفي فکر لرونکو انسانانو لرې اوسېږئ، دوی د هرې ستونزې د حل سره مشکل لري.
•ګټونکي هیڅکله په ارامه نه کیني. په ارامه کیناستونکي هیڅکله بریالیتوب نشي ترلاسه کولای.
وینس لومبارډي
•د خپل ځان پېژندنه؛ د هوښیارتیا اغاز (شروع) دی.
ارسطو
•تر هغې پورې له تاسو کامیابه شخص نشي جوړیدلی چې تاسو د تشویش، اندیښنې او ویرې لاندې وئ.
ولېس واټلز
•زړور اوسه او خطر په ځان قبول کړه.
ځکه چې هیڅ څه هم نشي کولی چې د تجربې ځای ونیسي.
پاویلو کویلو
•واقعي جهنم په یوه کلمه کې شتون لري؛ یوازیتوب.
ویکتور هوګو

(c) ketabton.com: The Digital Library


•پیسې په اسانۍ سره له لاسه وځي دا د یوې مرغۍ مثال لري که پاملرنه ورته ونه کړئ درنه آلوځي.
•مشورې هیڅوک هم نه غواړي بلکې د خپلو خبرو تایید پسې ګرځي.
جان ستاین بیک
•خاموشي تر ټولو عالي قدرت دی.
•ځینې وختونه تاسو بریالیتوب ترلاسه کوئ خو ځینې وختونه یوازې یو څه زده کوئ.
•د خپلې خولې خلاصولو څخه مخکې دې ذهن خلاص کړه.
•وخت یو داسې ډاکټر دی چې د هر غم او خواشینۍ درملنه کوي.
ډیپایلوس
•د ژوند راتلونکی فصل په خپله جوړ کړه.
سیټ ګودن
•درې شیان د ډېرې مودې لپاره نه پټ کېږي:
۱- سپوږمۍ
۲- لمر
۳- ریښتیا
بودا
•قیمت؛ کوم څه چې تاسو ادا کوئ. ارزښت؛ کوم څه چې تاسو ترلاسه کوئ.
وارن بوفېټ
•پوهان خبرې کوي خو هوښیاران ورته غوږ نیسي.
جیمي هینډریکس

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۷)

•مینه ړانده ده او کینه کڼه ده.

•مهرباني د کایناتو هغه ژبه ده چې ټول ژوندي مخلوقات پرې پوهیدلی شي.

•د ټولو بدمرغیو ریښه د پیسو کموالی دی.

جیورج برنارد شاو

•د انسان په ژوند کې درې شیان اړین دي: لومړی؛ مهربانه اوسیدل دوهم؛ مهربانه اوسیدل دریم؛ مهربانه اوسیدل.

هینري جمیز

•ښه ملګري درته ښه وخت لا ښه کوي او مشکل وختونه درته ډېر اسانه کوي.

•بهترینه دوست هغه چاته ویل کېږي چې تاسو په داسې وخت کې وخندوي چې تاسو فکر کوئ چې په ژوند کې به هیڅکله موسکا ونه کړئ.

•هغه کتابونه چې نن لوستلای شئ، تر صبا یې مه پرېږدئ.

هول بروک جاکسون

•څوک چې ستا لپاره دروغ وایي ستا په خلاف یې هم ویلای شي.

بوسوانیا هیواد متل

•خپلو ماتو ته دا اجازه مه ورکوئ چې تاسو تعریف کړي بلکې دا اجازه ورکړئ چې تاسو ته یو څه در زده کړي.

باراک اوباما، د امریکا پخوانۍ ولسمشر

•یو شخص هم په ټولنه کې بدلون رامنځته کولای شي او هر یو باید دا هڅه وکړي.

جان ایف کېنیډي

•هغه څه ته چې انسان اړتیا لري؛ قدرت ندی، بلکې تصمیم او اراده ده.

ویکتور هوګو

(c) ketabton.com: The Digital Library


• تجربه د نړۍ تر ټولو بې رحمه استاد دی.
ځکه لومړۍ درنه ازموینه اخلي او بیا در له درس درکوي.
• مثبت کړه وړه د مثبتې نتیجې سبب ګرځي.
• یو کوچنۍ مثبت فکر په سهار کې ستا ټوله ورځ بدلولی شي.
• کله چې هر څه ستا په خلاف مخته ځي؛ دا په یاد ولره چې الوتکه تل د هوا په مخالف جهت روانه وي.
هینري فورد
• له اتو شیانو لاس واخله:
۱- په خپل ځان شک کول
۲- منفي فکر کول
۳- د ناکامۍ ویره درلودل
۴- په نورو انتقاد کول
۵- ځان ته منفي خبرې کول
٦- کارونو ته نن او سبا کول او د هغو ځنډول
۷- بریالیتوب ته اندیښنه کول
۸- په خلکو مسخرې او ملنډې وهل
• د ماتې او ناکامۍ په اړه اندیښنه مه کوه؛ بلکې د هغه فرصتونو په اړه اندیښنه وکړه چې تاسو له لاسه ورکړل او یوځلې مو هم د هغه د ترسره کولو هڅه هم ونه کړه.
جک کانفیلډ
• د هرې ورځې هر سهار د ژوند یو نوی فرصت دی.
مارجوري هینکلي
•د لوی ذهن خاوندان یوازې فکر کوي.
ویز خالیفه
• د بوختو میندو لورګانې لټې او تنبلې وي. پرتګالي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

• پلار يعنې هغه څوک چې د چا مينه درسره هيڅکله هم پای نه مومي.
• پلار يعنې هغه څوک چې ستا د موسکا لپاره ژوند کوي.
•پلار يعنې هغه څوک چې تاسو ته سمه لاره ښايي او له بدې لارې مو منعه کوي.
• پلار يعنې هغه څوک چې هميشه دې ساتنه کوي.
• پلار يعنې هغه څوک چې خپل دردونه په زړه کې پټوي تر څو تاسو خواشينی نه شئ.
•که يوه ښايسته باغچه او د کتابونو يو کتابتون ولرئ؛ نو تاسو ټول هغه شيان لرئ چې ورته اړتيا لرئ.
سيسرو
• له مينې څخه هيڅ څيز هم په دې نړۍ کې سخت نشته.
گيبرايل گيرسيه مارکويز
•فرصتونه درته ناڅاپي توگه نه رامنځته کيږي؛ بلکې تاسو خپله يې ځان ته برابروئ.
کرېس گروسر
• بعضې وختونه ستاسو تر ټولو ښه کار دا وي، چې خوله مو بنده او چوپ واوسئ او سترگې مو خلاصې کړئ.
•د خبرو کولو څخه مخکې درې مرحلې ترسره کړه:
لومړۍ مرحله: له ځانه وپوښته؛ آيا دا ريښتيا دي؟
دوهمه مرحله: له ځانه وپوښته؛ ددې ويل ضروري دي؟
دريمه مرحله:له ځانه وپوښته؛چاته خو به زيان نه رسوي؟
• مينان ړانده وي خو واده يې سترگې بينا کوي.
•هيڅوک هم د پلار په شان ستاسو ساتنه نه شي کولی.
او هيڅوک هم د مور په شان تاسو ته مينه نه شي درکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاردیفا پاندین

•کله چې مې یو ځل تصمیم ونیو؛ په اړه یې بار بار هیڅکله هم فکر نه کوم.

مایکل جوردن

•ځینې خلک د بریالیتوب خوبونهویني خو ځینې یې لا وختي پاڅیدلي وي او د لاسته راوړلو لپاره سخت کار کوي.

مایکل جوردن

• پرمختګ له بدلون پرته ناشونی دی.څوک چې خپلو فکرونو ته بدلون ور نه کړي هیڅ شي ته هم بدلون نه شي ورکولای.

جیورج برنارد شاو

• که یې هیله لرئ نو لاسته راوړلای یې هم شئ.

والټ ډیسني

•د ښه ملګري لاسته راوړل کال نیسي خو له لاسه ورکول یې ځینې وخت یوازې یوه دقیقه نیسي.

•له حده لوړ فکرونه مو یوازې خوښۍ له منځه وړي.

له کولو یې ډډه وکړئ.

•ښه کوه له تاسره به هم ښه کېږي

• قیمت ته یې مه ګوره بلکې د ارزښت په اړه یې فکر وکړه.

جان سپینس

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۹)

•سخت کار کوه، تل مثبت فکر کوه او سهار وختي پاڅېږه.
دا د ورځې تر ټولو غوره کارونه دي.
جیورج الین

•د کوچنیو شیانو خوند اخله، که یو ورځ مو ماضي ته یو نظر وکړ؛ نو تاسو به پوه شئ چې هغه لوی شیان وه.
رابرټ براولټ

•څوک چې پوهه لري، هغه له وخته مخته اټکل نشي کولای او څوک چې له وخته مخته اټکل کوي هغه پوهه نه لري.
لیو زو

•که نه غواړې چې صبا ته وشویږې؛ نو نن ریښتیا ووایه.
بروس لي

•تر ټولو غوره څه د علم او زده کړې په اړه دا دي چې هیڅوک یې په زور درڅخه نشي اخیستلای.
بي بي کېنګ

•ولې موږ خپلې سترګې پټوو کله چې موږ دعا کوو یا ژړا کوو او یا خوب وینو او یا کوم څه مچوو ؟ ځکه چې په ژوند کې تر ټولو ښایسته شیان په سترګو سره نشو لیدلای بلکې یوازې په زړه سره یې احساس کولای شو.

•په لومړیو کې موږ عادتونه جوړوو او بیا عادتونه موږ جوړوي.
جان ډرایډن

•کله چې هغه څه ترسره کړئ چې تاسو ترې ډېره ویره لرئ نو بیا هر څه کولاې شئ.
ستېیفن ریچارډز

(c) ketabton.com: The Digital Library



•کله  چې مو غلطي وکړه، نو تاسو باید درې شیان ترسره کړئ لومړی - هغه ومنئ دوهم - له هغې یو څه زده کړئ دریم - او بیا یې مه تکراروئ.

پایول براینټ

•سوله په یوې موسکا سره پیل کیږي.

مادر تیریسا

•په پیسو سره کور اخیستلی شې خو کورنۍ نشی اخیستلی.

په پیسو سره کټ اخیستلی شې خو خوب نشئ  اخیستلی.

په پیسو سره ساعت اخیستلی شې خو وخت نشې اخیستلی.

په پیسو سره کتاب اخیستلی شې خو علم او پوهه نشې اخیستلی.

په پیسو سره خوراک اخیستلی شې، خو اشتها نشې اخیستلی.

په پیسو سره مقام اخیستلی شې خو عزت نشې اخیستلی.

په پیسو سره وینه اخیستلی شې خو ژوند نشې اخیستلی.

په پیسو سره ځان او مال بیمه کولی شې خو حفاظت نشې اخیستلی.

پام!

تاسو یې گورئ، چې پیسې هر څه ندي.

•ریښتني خلک ډېر کم دوستان لري.

ټوپاک

•په خپل ځان باور درلودل د بریا لومړی راز دی.

•معناداره خاموشي همیشه د بې معنا خبرو غوره ده.

• که له یو بل سره مینه لرئ؛ نو په یو بل باور هم ولرئ.

•تمه او توقع درلودل د ټولو دردونو اصلي ریښه ده.

ویلیام شکسپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library


• پاک رب ټولو الوتونکو ته خواړه ورکوي لیکن د هیڅ یو په ځاله کې یې نه ورته کېږدي، بلکې په خپله هڅه او زیار یې ترلاسه کوي.

•د ښوونځي او ژوند تر منځ څه توپیر دی؟

په ښوونځي کې لومړی یو څه زده کوئ، بیا امتحان ورکوئ.

خو په ژوند کې لومړی امتحان ورکوئ، بیا یو څه زده کوئ.

ټام بوډیټ

• باور د پنسل پاک په شان دی.

د هرې غلطۍد پاکولو وروسته کوچنی کېږي.

• ځمکه د هغه چا لپاره موسیقي لري، چاچې ورته غوږ نیولی.

شکسپیر

## (۱۰)

•که یو څیز له لرې ښخه گورئ نو پوره باور هم پرې مه کوئ ځکه چې مالگه له لرې بوره ښکاري.

•د تر ټولو ښه شخص علامه دا ده چې هغه تل په نورو کې ښکلا او د هغه ښیگڼې گوري.

عمر سلیمان

•د نورو له احساساتو سره لوبې مه کوئ، تاسو به هغه ته ماتي ورکړئ خو شاید هغه د تل لپاره له لاسه ورکړئ.

ویلیام شکسپیر

•که چیرې ملگرتیا ستاسو ضعیفه نقطه وي نو تاسو د نړۍ تر ټولو قوي شخص یاست.

ابراهیم لینکلن

(c) ketabton.com: The Digital Library


•ضعیف خلک هیڅکله هم چاته ښښنه نه کوي، ښښنه کول د قوي خلکو خصوصیت دي.
ګاندي
•مینه له مینې پیدا کېږي.
ګاندي
•ښه شیان هغه څوک ترلاسه کوي چې څوک ورته انتظار کوي خو تر ټولو عالي شیان هغه څوک ترلاسه کوي چې څوک د هغو د ترلاسه کولو لپاره له خپلو استوګنځیو وتلي وي او د هغو د ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي.
•خندا د ټولو ناروغیو او سختیو تر ټولو ښه دارو او درمل دي.
•هیله او امید درلودل یوازنۍ څه دي چې له ویرې ډېر ځواکمن او پیاوړي دي.
•له تشې پیالې څه نه تویېږي.
•تر ټولو مهم ځیز چې یو پلار يې د خپلو ماشومانو لپاره کولای شي، چې د دوی مور ته دې مینې ورکول دي.
تیودور هسبرګ
• که تاسو هر څه نه شی کولای، یو څه خو ضرور کولای شئ.
ډیویډ الین
•مرغان چې په پنجرو کې پیدا شي فکر کوي چې الوتنه یوه ناروغي ده.
الیجاندرو جودروسکي
•په هغه خواړو چې مور درته پاخه کړي خوشاله او راضي اوسه.ځکه چې ځینې خلک هیڅ خواړه نه لري او ځینې مور نه لري.
•ستاسو شخصیت دوه شیان تعریف کوي:
الف- ستاسو صبر اوزغم چې کله تاسو هیڅ نه لرئ.
ب- ستاسو کړه وړه او سلوک د نورو سره؛ کله چې تاسو هر څه لرئ.
• تاسو به ډیرې خطاګانې کړي وي او ډېر دردونه به مو تېر وي خو په ژوند کې ډیرې خطاګانې درڅخه هوښیار او ډېرۍ دردونه او مشکلات درڅخه قوي او زړور شخص جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


• خپلو فکرونو ته پام کوه، ځکه چې خبرې ترې جوړيږي.
خپلو خبرو ته پام کوه، ځکه چې عملونه ترې جوړيږي.
خپلو عملونو ته پام کوه، ځکه چې عادتونه ترې جوړيږي.
لاو زو

• زما کړه وړه او سلوک ستا سره ستا د خپلو عملونو نتيجه ده، که چيرې تاسو زما سلوک نه خوښوئ نو خپل ځان ملامت کړئ.

•په دغه نړۍ کې هيڅوک هم پوره ندي، که چيرې تاسو د خلکو د واړو تيروتنو له امله له هغوی تيريږئ، نو تاسو به تل تنها او يوازې وئ نو د نورو په اړه قضاوت کم او مينه ورسره ډېره کوئ.

•مورږ تهول لوی کارونه نه شو کولای خو مورږ تهول واړه کارونه دبېساري مينه په درلودلو سره کولای شو.

مادر تريسيا

(c) ketabton.com: The Digital Library


# (۱۱)

•هیڅکله هم دا اجازه مه ورکوئ چې د بایللو ویره مو د ګټلو د شوق او جوش څخه زیاته شي.
رابرټ کیوساکي
• په ژوند کې هیڅوک هم مه ملامتوئ.
ښه خلک درته خوشالۍ درکوي او بد خلک درته تجربې.
تر ټولو ښه خلک درته خاطرې درکوي او تر ټولو بد خلک د ژوند یو درس.
• د لمر د وړانګو پرته ګلان نه شي غوړیدلی او همدغه شان انسانان له مینې پرته ژوندي نه شي پاتې کیدلی.
• صداقت او سپیڅلتیا بغیر له علمه کمزورتیا او بې فایدې څه دي.
علم بغیر له صداقت او سپیڅلتیا خطرناک او ویرونکي څه دي.
سمویل جانسن
• یوه ورځ به ته له مانه وپوښتې چې ستا ژوند ډیر مهم و که زما؟ زه به ځواب در کړم چې زما!
ته به له مانه لرې لاړه شې ځکه چې ته نه پوهیږې چې زما ژوند تاسو یاست.
جبران خلیل جبران
• هغه شخص غریب ندی، چې پیسې نه لري بلکې هغه شخص ریښتنی غریب دی څوک چې خوبونه او ارمانونه نه لري.
سوامي واویکاناند
•که خپل ځان ته د ګټونکي په څیر ونه ګورئ، نو تاسو به هیڅکله هم ګټونکی نه شئ.
زیګ زیګلر
• قانونونه بدلیږي، ریښتنی قدرت اوس د هغه چا سره دی چې د کتابونو لویه الماري ولري، نه د هغه چا سره چې د وسلو ډکو صندوقونو خاوند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


انتهوني انجیلو

• یوازې یو څه شتون لري چې ستاسو د خوبونو د ریښتیا کولو څخه او مانع ګرځي؛ د ناکامۍ ویره.

پایلو کویلو

•خوشاله واوسئ ددې لپاره نه چې هر څه ښه دي؛ بلکې ددې لپاره چې تاسو په هر څه کې ښه وینئ.

زیګ زیګلر

•د ماضي دروازې بندې کړئ، د راتلونکي دروازې خلاصې کړئ، یوه ژوره ساه واخلئ او د ژوند یو نوی فصل شروع کړئ.

•اروا‌پوهنه وایي چې مناسبه خندا او پوره خوب کول د هر څه لپاره تر ټولو بهتره درملنه ده.

•قلفونه بغیر د کونجۍ نه جوړیږي، همدې ورته خدای تاسو په داسې مشکلاتو کې نه ګیر کوي، چې حل لاره ونه لري خو موږ یوازې دې ته اړتیا لرو چې صبر ولرو تر څو حل لاره یې پیدا کړو.

•د نرم او مهربانه زړه خاوندان احمقان او کم عقلان ندي، دوی پوهیږي چې خلک ورسره څه کوي خو دوی ورته وار په وار ښښنه کوي، څکه چې دوی د یو پاک او مهربانه زړه خاوندان دي.

•قانون د غنې د جال په څېر دی، لوی مچان په اسانۍ ترې تیریږي او واړه پکې بند پاتې کیږي.

هونور ډي بلزاک

• ژوند درته همیشه د دویم فرصت وړاندیز کوي چې صبا بلل کیږي.

• مهرباني هغه ژبه ده؛ چې کاڼه یې اوریدلی او ړانده یې لیدلای شي.

مارک ټواین

•موږ خپلواکي لاسته راوړلو شو؛کله چې موږ د هغې پوره قیمت ادا کړو.

رابندراناټ ټاګور

• ډیری خلک تنها او یوازې دي څکه چې دوی د پلونو پر ځای تل دیوالونه جوړوي. جوزیف نیوټن

•که تاسو په ژوند کې هیڅ هم نلرئ خو یوه ښه ملګری ولرئ؛ نو تاسو تر ټولو شتمن شخص یاست.

مایکل کاون

(c) ketabton.com: The Digital Library


# (۱۲)

•یوه ښه میرمنه تل د خپل میړه له تیروتنو ورتیرېږي او ښښنه ورته کوي.

مالتهون بیري

•ماشومان هغه ځای کې پاتې کېږي چیرته چې مینه وي او هغه ځای ته ځي، چیرته چې د دوی لپاره ساعتیرۍ وي.

زیګ زیګلر

•په تیارو کې د خپل ملګري سره ګرځیدل، په رڼا کې د تنها ګرځیدلو څخه غوره دي.

هیلن کیلر

•ټول خلک تیروتنې کوي خو یوازې هوښیاران د خپلو تیروتنو یو څه زده کوي.

وینسټن چرچل

•ښځه او میړه د واده یو کال وروسته د یو بل ښکلا ته نه ګوري بلکې د یو بل اخلاقو او کړو وړو ته دواړه متوجه وي.

اسمایلز

•کوم کارونه چې تاسو کولای شئ هغه زه نشم کولای؛ او کوم کارونه چې زه کولای شم، هغه تاسو نه شی کولای؛ خو په یووالي سره زه او ته هر څه کولای شو.

مادر تریسا

•پیاوړي خلک نور په څمکه نه غورځوي بلکې له څمکې یې راپورته کوي.

مایکل واټسن

• هر څه په پسرلي کې تازه او په مني کې مړاووي کېږي.

خو یوازنی ځیز مینه ده، چې موسمي نده.

رومي

(c) ketabton.com: The Digital Library


•اې!
تاسو هغه پټ او قیمتي الماس یاست چې په ختېه کې پټ یاست.
رومي
• هر څه به ترلاسه کړې؛ په مناسب وخت کې!
یوازې صبر او زغم ولره.
•چتري باران نشي ودرولای، لیکن موږ د لامده کیدلو څخه ساتي؛ په خپل ځان باور هم همدغه شان دی، موږ ته بریا نه را په برخه کوي لیکن موږ ته دا توان او طاقت راکوي چې په ژوند کې د ټولو ازمیښتونو سره مقابله وکړو.
• تر ټولو لوی خطر دا دی چې موږ هیڅ خطر په غاړه نه اخلو.
مارک زوگربرگ
•موږ تل د نورو په غورځولو پورته کېږو. رابرټ انګیرسول
• که غواړئ چې خپلو موخو او خوبونو ته ورسېږئ نو د نظم او ډیسپلین پرته یې تاسو هیڅکله هم نشی ترلاسه کولای.
لي کوان ییو
• ټول هغه شیان چې ژوندي وي؛ پر هغوی مهربان واوسه.
•فلسفه کولای شي چې ځیني خلک ناروغه کړي.
ارسطو
• له ستونزو او مشکلاتو تېښته هغه سیالي ده؛ چې تاسو به یې هیڅکله گټونکی نه شئ.
• د نن لوستونکي، د صبا رهبران دي. مارگریت فو لیر
•د اتل په څېر اوسه، او دا خبره همیشه وایه چې زه نه ویریږم.
سوامي
• دا مهمه نده چې تاسو څومره خطاګاني کړي او څومره په ځنډ سره به کامیابي ترلاسه کړئ تاسو اوس هم د هغه چا څخه وړاندې یاست چا چې د کامیابۍ ترلاسه کولو لپاره تر اوسه هیڅ هڅه نده کړي. ټوني روبینز

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱۳)

•هر کار چې کوئ، له نرمۍ کار پکې اخلئ.
•ښښنه کول یوه ډالۍ ده، چې تاسو یې نورو ته ورکوئ.
ټوني روبینز
•ناروغه خلک پخې میوې خوري.
افریقایي متل
•ښه دوستان د ستورو په شان وي، تاسو به یې هر وخت نه وینئ خو پوهیږئ به چې دوی هملته دي.
•په یوازیوالي موږ ډېر کم څه کولای شو، خو په یووالي موږ ډېر څه کولای شو.
هیلن کیلر
• په هغه چا هیڅکله هم باور مه کوئ چې دروغ وایي او هغه چاته هیڅکله دروغ مه وایه چې په تا باور لري.
•ملګرتیا د یو ښه شخص سره د ګنیو په څېر ده.که تاسو یې ټوټه ټوټه کړئ یا یې مات کړئ یا یې وژویئ خو تاسو به یوازې خوږوالی ترې ترلاسه کړئ.

•که په یو چا ګران وئ نو د چا د ګرانښته ناوړه ګټه مه پورته کوئ.
که یو څوک درته اړتیا لري، مصروفیت ورته مه پلمه کوئ.
که یو څوک درباندې باور لري، نو هیڅکله هم ورته دوکه مه ورکوئ.
که د یو چا تل په یاد وې، نو تاسو یې هم هیڅکله مه هیروئ.
• ځینو خلکو باندې چې تاسو باور لرئ او خپلې ستونزې ورته بیانوئ، احتیاط ورسره  کوئ ځکه چې چې هر موسکا کوونکی  ستاسو ملګری ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•که د خپلو خوبونو لپاره وجنګیدې، ستاسو خوبونه به ستاسو لپاره وجنګیږي.
پاوېلو کویلو
•د نن لوستونکي ماشوم څخه د صبا متفکر شخص جوړیږي.
•زه په ژوند کې بې شمیره ستونزې او مشکلات لرم خو زما شونډې دوی نه پیژني، تل موسکا کوي.
چارلي چاپلین
• د خپلو مشکلاتو په باره کې خبرې کول زموږ تر ټولو لوی اعتیاد دی، دا عادت له منځه یوسئ د خپلو خوښیو په اړه خبرې وکړئ.
ریتا شیلینو
•د یو څه د زده کولو لپاره خطر په ځان منل تر ټولو غوره لاره ده.
• هر څه سخت دي مخکې له دې چې ووایو، چې دا خو اسانه ده.
ګویته
• سالم عقل د یو ګل په شان دی چې د هر چا په باغچه کې نه را زرغون کیږي.
• دردونه په دوه ډوله دي یو چې یوازې تاسو وکړوي او بل چې تاسو کې بدلون رامنځته کړي.
• د خپلو خوبونو د ریښتیا کولو لپاره چې هر څه کولای شې، ویې کړه.
جویل اوستین
• که غواړئ چې هیڅکله د خفګان سره مخ نه شئ، نو هیڅکله هیڅ چاته او د هیڅ شي تمه او توقع مه لرئ.
•رهبر هغه څوک وي چې سمه لاره پیژني او په هغه باندې مخکې ځي او هغه سمه لاره نورو ته هم ښایي.
جان سي ماکسویل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۱۴)

•مورې د خپلو والدینو په مینه هغه وخت پوهیدلی شوو چې کله خپله والدین شو.

• مینه ستا او د هر څه ترمنځ د پول خاصیت لري.

رومي

•هیڅوک هم دومره شتمن ندي چې ماضي په پیسو واخلي.

اوسکار ویلډ

•که چیرې غواړئ چې نړۍ ته بدلون ورکړئ، کور ته لاړ شئ او کورنۍ ته مو مینه ورکړئ.

مادر تریسیا

• د یو موخې د ترلاسه کولو لپاره هر کال درته ۳٦۵ فرصتونه درکوي.

• بې ارزښته خلک یوازې ددې لپاره ژوند  کوي چې وخوري او وڅکي.

خو ارزښت لرونکي خلک بیا ددې لپاره خوراک او څښاک کوي چې یوازې ژوندي پاتې شي.

سقراط

• که خپل ځان دې وپېژنده، نو تاسو به ټولو جګړو او مقابلو کې بریا ترلاسه کړئ.

سن ټزو

•هڅه مه کوه چې تل ښه او عالي شخص واوسې یوازې له پرون ورځې ښه واوسه.

• که چیرې ستاسو کارونه نورو ته دا انګیزه ورکړي چې هغه لوی خوبونه ووینې ډېره زده کړه وکړي او ډېر څه وکړي او دهغه څخه یو ښه شخص جوړ شي نو تاسو رهبر یاست.

جان کوینسي اډمز

•بوډاګان په هر شي عقیده لري،د پاخه عمر خاوندان په هر شي شک کوي او ځوانان بیا په هرڅه پوهېږي.

اوسکار ویلډ

• په اوسنیو وختونو کې خلک د هرشي په قیمت پوهیږي خو د هیڅ شي ارزښت نه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوسکار ویلډ

•همیشه هم تاسو پلان ته اړتیا نه لرئ ځینې وختونه تاسو دې ته اړتیا لرئ چې یوه ژوره ساه واخلئ او پیل یې کړئ او وګورئ چې څه پیښیږي.

مانډي هیل

• د ژوند شپږ قوانین:

مخکې له دې چې دعا وکړې په هغې پوره باور ولرئ.

مخکې له دې چې خبرې وکړئ یو ځل غور ونیسئ.

مخکې له دې چې یو څه مصرف کړئ، عاید یې لاسته راوړه.

مخکې له دې چې یو څه ولیکئ، یو ځل فکر وکړئ.

مخکې له دې چې مړ شئ، په خوښۍ ژوند تیر کړئ.

•زده کړه یوازې په حقیقتونو پوهیدل ندي بلکې د ذهن هغه روزنه ده چې د هغې پواسطه فکر وکړئ.

البرټ آینشټاین

• باور د ګلدان په څیر دی که یو ځل درنه مات شو؛ دوباره ترمیمول یې ستونزمن دي.

• هر څوک د سپوږمۍ په شان دي او یو تیاره خوا لري چې هیڅکله یې هم نورو ته نه ښايي.

مارک ټواین

• زه په دې باندې پریشانه نه یم چې تا ماته دروغ وویل بلکې زه ددې لپاره پریشانه یم چې له نن وروسته به هیڅ وخت هم په تا باور ونه لرم.

فریدریک نیچه

• پلټونکی اوسه، نه قضاوت کوونکی.

والټ ویټمن

•که د خپلو هیلو او ارمانونو لپاره قرباني ور نه کړئ نو ستاسې هیلې او ارمانونه به قرباني شي

• هر څوک کولای شي چې خپل راتلونکي ته بدلون ورکړي که یوازې خپلو کړو وړو او سلوک ته یې بدلون ورکړ.

اوپرا وینفري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۱۵)

•یو ښه رهبر خپلو خلکو ته دا انګیزه ورکوي چې په رهبر باور ولري.
لیکن ترټولو عالي رهبر بیا خلکو ته دا انګیزه ورکوي چې په خپلو ځانونو باور ولري.
الینور روسیولوټ
• تل د اخیستونکي ( مشتري) په ښېر فکر کوه.
پاول ګیلن
•پرون بیدار وم ما غوښتل چې نړۍ ته بدلون ورکړم
خو نن هوښیار یم ځکه چې لومړۍ ځان ته بدلون ورکوم.
رومي
•کله چې خبرې ریښتیا او د سپیڅلتیا څخه ډکې وي نو نړۍ ته بدلون ورکولای شي.
بودا
•هغه وخت چې له بې ځایه شیانو د کولو څخه ډډه وکړئ، ښه ځیزونه درته خپله یوه موقعه درکوي تر څو هغه لاسته راوړئ.
لولي ډاسکل
• ښکلا توجه راجلبوي خو اخلاق زړه.
•نظم او ډسیپلین د موخو او د هغو پوره کولو ترمنځ د پول خاصیت لري.
جیم ران
• زغم او صبر، ټینګاراو اصرار  او د هغې لپاره خولې تویول د بریالیتوب لپاره یو نه ماتیدونکی ترکیب جوړوي.
ناپیلیون هیل
• په کال کې یو ځل داسې ځای ته لاړ شئ چې هیڅکله مو لیدلی نه وي.  دالای لاما

(c) ketabton.com: The Digital Library



• رهبران د ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره خبرې او فکر کوي.
خو پلویان یې یوازې د ستونزو اومشکلاتو په اړه خبرې او فکر کوي.
برایان تریسي

• بریالیتوب تر ټولو غوره غچ دی.
کین ویست

• د کورنۍ اصول او قواعد:
الف - غړي یې د یو بل سره مرسته کوي.
ب- له یو بله منندوی اوسي.
ت- له یو بل سره کینه او نفرت نه لري.
ث- یو بل ته عزت او درناوی لري.
ج- په ګډه د یوې موخې لپاره کار کوي.
د - په مشکلاتو کې د یو بل سره همدردي او خواخوږي لري، او د حل لپاره یې په ګډه کار کوي.

•که تاسو فکر کوئ چې تاسو ډېر واړه یاست تر څو په ټولنه کې بدلون رامنځته کړئ نو لاړ شئ د میاشي ( غوماشي) سره ویده شئ.
دالای لاما

•کله چې موږ په ژوند کې یو چاته ډېر ارزښت ورکړو نو موږ د هغه په ژوند کې خپل ارزښت له لاسه ورکوو.

•مور که بې سواده یا سواد لرونکي وي هغه د نړۍ ترټولو غوره لارښوونکي وي.
او د ژوند وروستۍ تمنا وي چې کله تاسو په ژوند کې د ناکامۍ سره مخ شئ.

•د ماضي په اړه مه ژاړه ځکه چې تیر شوی دی.
د راتلونکي په اړه تشویش مه کوه، ځکه چې لا را رسیدلی ندی.
بلکې په نن کې واوسیږه، او ښایسته یې جوړ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- یوه مور دوه ویشت کاله خواري کاږي، چې له خپل ماشومه یو ښه شخص جوړ کړي، لیکن یوه بله ښځه په دوه ویشتو دقیقو کې له هغې څخه احمق شخص جوړوي.

رابرټ فروسټ. امریکایي شاعر ۱۹٦۳-۱۸۷۴

- مینه هغه کونجي ده چې د هغې پواسطه په ټولو رازونو پوهیدلی شو.

پاویلو کویلو

- که د خپل ځان اداره کول دې زده کړل، نو تاسو د هر څه استاد یاست.
- خپل ځان ته په خپله دیکه ورکړئ ځکه چې نور هیڅوک هم شتون نه لري چې دغه کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# (١٦)

•د دروغجن سزا دا نده چې خلک یې په خبرو باور نه کوي، بلکې خپله هم نه شي کولای چې د چا په خبرو باور وکړي.

جیورج برنارد شاو

•په ژوند کې هیڅ حالت هم دایمي ندی، کله چې ژوند مو ښه وي، نو خوند ترې واخلئ او استقبال یې وکړئ.

کله چې ژوند مو ښه نه وي نو دا په یاد ولرئ چې دا د تل لپاره نه دی بلکې ښې ورځې په لاره کې دي.

جیني یانگ

• که څوک د خپلو شته شیانو شکر ادا نه کړي، نو هیڅکله به یې خوشالۍ په برخه نه شي.

• ژړل د کمزورتیا نښه نده بلکې د زیږیدلو پرمهال ژړل هغه نښه ده چې ستاسو په ژوندي پاتې کیدلو دلالت کوي.

• که غواړئ، کامیابه واوسئ، دا ډیره اسانه ده.

په کوم څه چې پوهیږئ هماغه کوئ.

د کوم څه سره چې مینه لرئ هماغه کوئ.

په کوم څه چې باور لرئ، هماغه کوئ.

ویل روگرز

• تاسو کولای شئ چې له هغه شیانو سترگې پټې کړئ کوم چې نه غواړئ ووینئ .

خو تاسو نه شی کولای چې زړه له هغه شیانو څخه بند کړئ چې تاسو یې نه غواړئ  حس کړئ.

جاني دیپ

•تر ټولو مهم څه هڅه کول دي.

ډایټر فوکودروف

(c) ketabton.com: The Digital Library


•کورنۍ د ونې د ښاخونو په څېر ده دوی ټول مختلفو طرفونو ته لوییږي، خو په ریښه کې سره ټول نښتي وي.
• حساس خلک ډېر ځوریږي خو دوی ډیرې علاقې او ډیرې هیلې لري.
اوګستېو کوري
•ځینې وختونه خاموشي د خبرو څخه ډیره دردوونکي وي.
•دا مهمه نده چې نور درته ښکلي ګوري بلکې د هر څه دي چې تاسو ځان ته ښکلی ګورئ.
•تاسو ماضي ته بدلون نه شی ورکولای خو تاسو کولای شئ چې اوس بدلون رامنځته کړئ، صبا ته، راتلونکو ورځو ته او راتلونکي ژوند ته.
بیلي کوکس

•پیسې شمیرې دي، شمیرې هیڅکله هم پای ته نه رسیږي.
رابرټ نیسته مارلي
•دوه شیان همیشه په ژوند کې په یاد ولره.
الف: خپلو فکرونو ته دې پام کوه، چې کله یوازې یاست.
ب-خپلو خبرو ته دې پام کوه چې کله له خلکو سره وئ.

•له خولې خلاصولو مخکې دې ذهن خلاص کړه.
فکر ژور کوه، خبرې په ادب کوه، مینه ډېره کوه، خندا اکثر کوه، او کار سخت. او مهربان اوسه.
•که له ژونده دې منفي فکره خلک وشړل، نو ژوند کول درته اسانه کیږي.

•هر سفر په یوه قدم سره پیل کیږي.
•کله چې پلار یو زوی ته یو څه ورکوي، دواړه خاندي.
کله چې زوی خپل پلار ته یو څه ورکوي، دواړه ژاړي.
ویلیام شکسپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library


•په روښانه راتلونکي کې تاسو ماضي نه شی هیرولی.

باب مارلي

•تشویش کول یوازې د وخت ضایع کول دي، هیڅ څه ته هم بدلون نه ورکوي. یوازې ستاسو خوشالۍ او خوښۍ درڅخه پټوي او تاسو مصروف ساتي.

نو زه هیله لرم چې تاسو همیشه دموسکا کولو لپاره یو دلیل پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱۷)

•د څراغونو بڼې مختلفې وي، خو دوی ټول یو شان رڼا ورکوي.

رومي

•لمر ډېر یوازې وي خو بیا هم همیشه ځلیږي.

•ماته داسې یوه کوټه راکړئ چې هر کونج یې ما ته کتابونه ډالۍ کړي.

رابرټ سوتې

•ریښتنې ناپاکي ظاهري نه وي بلکې دننه وي؛ زموږ په زړونو کې.

موږ ټولې ناپاکۍ په اوبو سره وينځلی شو خو یوازنۍ څه چې موږ یې د زړونو څخه نشو لرې کولای بدې ارادې او کینې دي چې زموږ په زړونو پورې نښتي دي.

شمس تبریزي

•زه چې ستاسو په عمر وم، ټلویزیون ته یې کتاب ویلو.

ویلیام ګولډمین

• مینه د تیزې هوا په څیر ده.لیدلی یې نشئ؛ خو احساسولای یې شئ.

نیکولاس سپارکز

•د رهبرۍ ترټولو لوی خاصیت صداقت دی.

ډیوېټ ایسنهاور

• د کتاب په څیر ریښتنی ملګری هیڅوک هم نشته.

ارنیست همینګوی

• که یو څوک د بریا د ترلاسه کولو لپاره هر څومره ورو مخکې ځي، پرې نیوکه مه کوي.او زړه یې مه ور توروئ.

افلاطون

(c) ketabton.com: The Digital Library


• تاسو پیاوړي یاست که مو خپلې کمزورتیاوې وپیژندې.
تاسو ښایسته یاست که خپلو عیبونو باندې خفه نه شئ.
تاسو هوښیار یاست، که مو له خپلو تیروتنو زده کړه وکړه.
•د مرگ په نوم څه نشته یوازې د یوې نړۍ بدلیدل دې بلې نړۍ ته.
چیف سیتل
•د یو شخص د کتابونو الماري د هماغه شخص په اړه درته هرڅه بیانوي،اړتیا نشته چې په اړه یې معلومات راوړئ.
والتیر مویلي
•هغه چاته ریښتیا مه وایه، څوک چې یې په ارزښت نه پوهیږي.
مارک تواین
• د نړۍ تر ټولولوی طاقت دیوې ښځې ځواني او ښکلا ده.
چناکیا
•کله چې پنځه کلن وم، مور به مې همیشه راته ویل چې خوښي د ژوند کونجي ده.
کله چې ښوونځي ته لاړم، له ما یې وپوښتل چې په راتلونکي کې څه کیدل غواړې؟
ومې ویل چې خوشاله اوسیدل!
ټولو راباندې وخندل او راته یې وویل چې ته په خپله ټاکنه نه یې پوه شوی.خو ما ورته وویل چې تاسو د ژوند په معنا نه یاست پوه شوي.
جان لینون

• زما تر ټولو غوره دوست هغه څوک دی چې ماته داسې کتاب راکړي چې تر اوسه ما هیڅکله لوستلای نه وي.
ابراهیم لینکلن

(c) ketabton.com: The Digital Library



•ددې هيله مه لره چې اسانه وي، بلکې ددې هيله ولره چې تاسو ورته پياوړي وئ.
ددې هيله مه لره چې مشکلات مو کم وي بلکې ددې هيله ولره چې تاسو ډېر مهارت ترلاسه کړئ.
ددې هيله مه لره چې په وړاندې مو چيلېنجونه ( ننگونې) کم وي بلکې ددې هيله ولرئ چې تاسو ورته خورا هوښيار وئ.

جيم ران

• زه يوازې راغلم او يوازې به ځم. زه نه پوهېږم چې زه څوک وم او ما څه وکړل.

اورنگزېب

•د يوې ورځې لپاره د زمري په څير اوسيدل، د چغال په شان د سلو کلونو د ژونده غوره دی.

ټيپو سلطان

•خوښۍ له غمونو پرته څه معنا لري؟ بريا د ناکامۍ پرته څه معنا لري؟ گټل د بايللو پرته څه معنا لري؟ صحت له ناروغۍ پرته څه معنا لري؟
تاسو مجبور ياست چې دا هر يو تجربه کړئ، ترڅو تاسو د دوی په درلودلو خوشاله شئ.

مارک تواين

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱۸)

•هر څیز ښکلا لري لیکن ټول خلک یې نه شي لیدلی.
کانفیو سیس

•شروع د کار تر ټولو مهمه برخه ده.
افلاطون

• که ماته د یوې ونې د وهلو لپاره شپږ ساعته وخت راکړل شي؛ زه به څلور ساعته د تبر په تیره کولو تېر کړم.
ابراهیم لینکلن

•په زیاترو هیوادونو کې زیاتره میرمنې په ورته ژبه خبرې کوي چې خاموشي بلل کېږي.
هیلري کلنټن

•د نابغه ګانو او لیونیانو ترمنځ فاصله یوازې په بریاوو اندازه کېږي.
بروس فیریسټن

•که د یوه کس سره د خلکو تشویق هم وي، نو اکثریت بلل کېږي.
توماس جیفرسون

• مینه په دې معنا ده چې چې تاسو د یو چا د خوشالیو ساتنه د خپلو خوشالیو هم زیاته کوئ، هیڅ خبره نده چې ستاسو انتخاب به ستاسو لپاره څومره دردونکی وي.
نیکولاس سپارکز

•ماضي خو هسې هم نه شئ بدلولی،خو راتلونکی اوس هم ستاسو په واک دی.
ماري پیکفورډ

• هیڅوک هم په خپل موقف خوشاله ندي.
انتوني دي سینټ

(c) ketabton.com: The Digital Library


•په نړۍ کې تر ټولو ښایسته او ښه شیان په سترګو نه لیدل کېږي او نه په وجود لمس کېږي. بلکې په زړه سره احساس کېږي.

انتوني دي سېنټ

•ځيني وختونه چې خلک له خفګان سره مخ شي؛ دوی د فکر کولو څخه کرکه لري خو دا هغه وخت وي چې دوی تر ټولو زیات فکر کولو ته اړتیا لري.

ویلیام جي کلنټن

•په خویونو عادتونو، فیشنونو او اخلاقو او هر څه کې ساده ګي ( ساده اوسیدل ) تر ټولو غوره دي.

هینري واډز اورت

•که غواړئ راتلونکی تعریف کړئ، نو ماضي مطالعه کړئ.

کانفیوسیس

•بریا د یو څه کول دی؛ نه د یو څه ترلاسه کول.

زیګ زیګلار

• نابغه ګان بغیر له علمه د هغه سپینو زرو په شان دي چې په کان کې وي.

بینجامین فرانکلن

•هغه کوټه چې کتابونه پکې نه وي، د هغه بدن په څېر ده چې روح نه لري.

مارکوس سیسرو

•عملونه دې بدل کړه، ژوند به دې بدل شي.

ډویډ باک

• زموږ تر ټولو لویه ملي شتمني؛ زموږ د ماشومانو ذهنونه او فکرونه دي.

ولټر ډیسني

•که تاسو د مور سترګو ته وګورئ، نو تاسو به د نړۍ تر ټولو رینښتني او پاکه مینه پکې پیدا کړئ.

مېک البوم

•زموږ تر ټولو لویه بریا دا نده چې موږ هیڅکله ماتې نه خورو؛ بلکې دا ده چې د هر ځل غورځیدلو وروسته ولاړ شو. کانفیوسیس

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۱۹)

•که پیسه داره یاست، نو خلک مو پیسو ته عزت کوي، نه تاسو ته.
•د کوم چا سره چې تر ټولو زیاته مینه لرئ، هماغه شخص درته تر ټولو ډیر درد رسوي.
• غریب خلک هیڅ دوستان نلري.
• مهربانه واوسئ، مهرباني درنه ښایسته شخص جوړوي، اړینه نده چې تاسو ښکلي ښکارئ.
• تر ټولو خطرناکه دروغجن هغه دي، چې تاسو فکر کوئ، چې هغه درته ریښتیا وایي.
•ځیني خلک هیڅ بدلیږي نه، مجبور یاست، چې په هماغه حالت کې یې قبول کړئ.
•کله چې مرغۍ د ونې په څانګه کیني، هغه هیڅکله هم د شاخ د ماتیدو په ویره کې نه وي،ځکه چې هغه په خپلو وزرو باور لري؛ نه پر شاخ.
همیشه په خپل ځان باور ولرئ.
•په بایللو کې شرم نشته، بلکې ریښتنی شرم د زحمت په نه ایستلو کې دی.
• کله چې ماشوم پورته غورځوئ، نو هغه خاندي، ځکه چې هغه په دې باور لري، چې لاندې نه غورځیږم.
یو څوک مې خامخا نیسي.
دې ته باور وایي.
• منفي فکرونه د مرغانو په شان دي، ځان ته له نږدې الوتلو څخه موږ هغه نشو منعه کولی.
خو موږکولی شو، چې په خپل ذهن کې یې له ځالې جوړولو څخه منعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•په ژوند کې پنځه شیان بېرته نه راګرځي:

- ډبره وروسته د شړلو.

-خبره وروسته د ویلو.

-موقعه (چانس) وروسته د لاسه ورکولو.

-وخت وروسته د تېریدلو.

-باور وروسته د بایللو.

• باور کول تر ټولو خطرناکه لوبه ده.

• خوندوره شیبه هغه وي، چې یو څوک درته دروغ وایي، لیکن تاسو په ریښتیا پوهېږئ هم؛خو بیا مو هم ورته غوږ نیولی وي.

• هرکله چې غوصه وئ، هیڅکله ځواب مه ورکوئ.

هر کله چې خوشاله وئ، وعده مه کوئ.

هر کله چې خفه وئ، تصمیم مه نیسئ.

•په ژوند کې هیچاته هم زیان مه رسوئ، تاسو به نن تر ټولو ډیر زړور وئ، خو دا په یاد ولرئ؛ چې وخت له تاسو هم ډیر زړور دی.

له یوې ونې میلیونه اورلګیت جوړیږي، خو کله چې وخت راشي، یو اورلګیت ټول ځنګل سوځوي.

ښه اوسه، او تل ښه کوه.

• هر چاته غوږ ونیسئ،او له هر چا یو څه زده کړئ.

ځکه چې هېڅوك هم په هر څه نه پوهېږي، لیکن هر څوک په یو څه پوهېږي.

• کله چې ژوند درته د ژړلو او فریاد کولو لپاره سل دلیلونه وړاندې کړي؛ ژوند ته یې وښایاست، چې د خندلو لپاره زر دلیلونه لرئ.

• مرغۍچې کله ژوندۍ وي، میږي خوري.

خوکله چې مړه شي، نو میږي مرغۍ خوري.

وخت او شرایط کولای شي، چې هر وخت بدلون ومومي.

• د خلکو سره مرسته وکړه، اګر چې پوهېږئ هم، چې هغه درسره مرسته نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• بریالي خلک همېشه په شونډو دوه شیان لري:

-موسکا

- خاموشي

## (۲۰)

•که تاسو د یو چا سره مینه لرئ، خو هغه درسره مینه نلري.

دا پدې معنا ده، چې تاسو په هوایي ډګر کې کښتۍ ته انتظار کوئ.

• بریا د یو موټر په څیر ده.

د سخت محنت په نامه په ټایرونو حرکت کوي.

لیکن بې تیلو سفر کول ناممکن دي، هغه تیل په خپل ځان باور درلودل نومېږي.

•هوښیار خلک په هر څه نه پوهېږي، خو احمقان فکر کوي، چې دوی په هر څه پوهیږي.

• مور یعني هغه څوک چې د نورو ټولو ځای نیولی شي، خو د هغې ځای هیڅوک هم نشي نیولی.

• ریښتنی دوست ستا ښه صفتونه ستا په نه شتون کې کوي، او بد صفتونه ستاسو په مخ کې.

• د زړو خلکو عزت وکړه، کله چې ځوان یاست.

د کمزورو سره کومک وکړه، کله چې تاسو قوي یاست.

په خپله سهوه اقرار وکړه، کله چې مو سهوه کړي وي.

ځکه چې په ژوند کې به تاسو یوه ورځ زوړ، کمزوری او سهوه کوونکی وئ.

• بریالي خلک هیڅکله هم په آرامه نه کیني.

په ارامه کیناستونکي خلک هیڅکله هم نه بریالي کېږي.

•کچیرې نیولي پلان مو کار ونه کړ، پلان دې بدل کړه، لیکن هدف دې هیڅکله مه بدلوه.

• کچیرې د یو چا سره ریښتني مینه ولرئ، تاسو به هره ورځ په یو نه یو ډول سره مرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•ځینې خلک عالي ژوند نه غواړي، بلکې خوشاله ژوند غواړي.
•علم یعنې په دې پوهیدل، چې څه باید ووایو، هوښیاري یعنې په دې پوهیدل، چې کله باید یو څه ووایو.
• خاموشه خلک تر ټولو اوچت فکرونه لري.
• غمونه او دردونه ډیرې خلکو ته بدلون وربښي.
•د مین په څیر واوسه نه دیوه جنګیالي.
لیکن دهغه څه لپاره همېشه وجنګیږه چې ته ورسره مینه لري.
• تاسو به هیڅکله زړور نشئ، که څوک درته زیان ونه رسوي.
تاسو به هیڅکله څه زده نه کړئ، که غلطي ونه کړئ.
تاسو به هیڅکله کامیاب نشئ، که ماتي ونه خورئ.
•مینه د هغه چا سره وکړه، چې ستا زړه یې غواړي.
د خلکو په خبرو پسې مه ګرځه، د ستا ژوند دی، د دوی ندی.
• هیڅ خبره نده، که تاسو د نورو شتمنو په شان لوی کور، قیمتي موټر، او بانکي حساب نلرئ، خو ستاسو قبر او د نورو شتمنو قبرونه به همیشه په یوه اندازه وي.
•ښکلا په دې معنا نده، چې ښکلی مخ ولرئ بلکې په دې معنا ده، چې ښه فکر، ښه زړه او ښه اخلاق ولرې.
•پیسې وایي،چې ما وګټه، نور هر څه هېر کړه.
وخت وایي، چې ما تعقیب کړه، نور هر څه هېر کړه.
راتلونکی وایي، چې زما لپاره مبارزه وکړه، نور هر څه هېر کړه.
خو خدای پاک وایي، چې یوازې ما په یاد ولره، زه درته دا هر څه در کوم.
• هڅه وکړئ چې، د هر شي په اړه یو څه زده کړئ، خو د ځینو شیانو په اړه هر څه زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۲۱)

ډاکټر عبدالکلام:

•د لومړي برې وروسته کراره مه کینئ، که دوهم ځل مو ماتې وخوړه؛ نو زرګونه خولې به دې خبرې ته انتظار کوي، چې وایي :

لومړۍ بریا یوازې ستا بخت و.

• هر سهار ځانته پنځه خبرې وکړئ:

۱- زه تر ټولو ښه یم.

۲- زه یې کولی شم.

۳-رب مې د تل لپاره زما سره دی.

۴- زه ګټونکی یم.

۵- نن زما ورځ ده.

دا پنځه خبرې مو ورځ په مثبت اړخ اړوي.

• یو ښه کتاب د سلګونه ښو ملګرو سره برابر دی.

لیکن یو ښه ملګری د زرګونو کتابتونونو سره برابر دی.

• زه ښایسته شخص نه یم، لیکن د هغه چاسره تل مرسته کوم، چې مرستې ته اړتیا ولري.ښکلا په زړه کې ده، نه په مخ کې.

• جګړه د مشکلاتو اخرنی حل ندی.

•کچېرې خپلې دندې ته سلامي وکړئ، تاسو به دې ته اړتیا ونلرئ، چې نورو ته سلامي وکړئ.

کچېرې له خپلې دندې مخ واړوئ، نو د مجبورۍ به ډیرو خلکو ته سلامي وکړئ.

• تاسو ګورئ، چې خدای پاک یوازې د هغه چا سره مرسته کوي، چې سخت کارکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- تاسو نشی کولی، چې خپل راتلونکي ته بدلون ورکړئ، خو تاسو خپلو عادتونو ته بدلون ورکولی شئ، په یقیني ډول ستا عادتونه ستا راتلونکی هم بدلولای شي.

•باور او سخت محنت تر ټولو ښه دارو دي، چې د ناکامۍ په نامه ناروغي ووژنئ.

دا به له تا څخه تر ټولو کامیابه شخص جوړ کړي.

- خوبونه دا ندي، چې تاسو يې په خوب کې وینئ.

بلکې خوبونه هغه څه دي، چې تاسو خوب کولو ته نه پرېږدي.

- د کامیابیو کیسې مه لوله، د هغوی څخه یوازې پیغام ترلاسه کوئ.

د ناکامیو کیسې ولوله، تاسو به داسې نظریې ترلاسه کړئ، چې د هغې پواسطه بریا ترلاسه کړئ.

•اوسپنیزه پیسې تل غږ پورته کوي خو کاغذي پیسې همیشه چوپې وي نو کله چې ستاسو ارزښت زیاتیږي نو خاموشه او خاکساره اوسه.

- دا ډېره اسانه ده چې چاته ماتي ورکړو خو دا ډېره گرانه ده چې د یو چا زړه او مینه وگټئ.

- موږ ټول یو شان استعدادونه نلرو لیکن موږ ټول یو شان فرصتونه لرو چې خپل استعدادونو ته پراختیا او پیاوړتیا ورکړو.

•وخت او ژوند د نړۍ تر ټولو ښه لارښوونکي دي ځکه چې ژوند درته د وخت ښه استعمال در ښايي او وخت درته د ژوند ارزښت.

- که غواړې د لمر په څېر وځلیږئ نو لومړۍ د لمر په څېر وسوځیږئ.

•دا تمه او توقع مه لرئ چې ستاسو دوست یو ښه شخص واوسي.

بلکې د هغه سره مرسته وکړه چې د هغه څخه یو ښه شخص جوړ شي. دې ته ریښتني ملگرتیا وايي.

•راځئ چې زموږ نن د خپلو ماشومانو د ښه راتلونکي د درلودلو لپاره قرباني کړو تر څو بهترینه صبا ولري.

•خپلو ماشومانو ته دا مه ور زده کوئ چې شتمن واوسي بلکې دا ور زده کړئ چې په ژوند کې خوشاله واوسي.

نو دوی به په ژوند کې د شیانو په ارزښت پوهیږي نه د هغوی په قیمت او بيې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•موږ هیڅکله هم هیله له لاسه نه ورکوو او هیڅکله ستونزو او خنډونو  ته دا اجازه نه ورکوو چې موږ ته ماتي او شکست راکړي.

(۲۲)

محمد علي کلي:

• خاموشي سره زر ده، کله چې د یو ښه ځواب د ورکولو لپاره فکر نشې کولای.
• مینه هغه جال دی، چېرته چې زړونه د ماهیانو په شان پکې بندېږي.
• نورو ته خدمت کول، ستا د هغه استوګنځي د کرایې ورکول دي، چې په دغه ځمکه یې لرې.
•ستاسو لاسونه هغه څه، هیڅکله هم نشي وهلی، چې تاسویې په سترګو نشی لیدلی.
• که د بایللو تجربه ونلرو، موږ به هیڅکله هم پوه نشو، چې موږ د څه شي لایق یو.
• زغم او صبر د بریالیتوب کونجي ده.
•په ژوند کې هیڅکله هم شاته مه ګورئ.
• ژوند جواري او  قمار وهل دي.
•موږ هیڅکله هم زړور کیدلی نشو، که ویره ولرو.
• د پتنګ په شان الوځه، حریف ته د مچۍ په شان ټک ورکوه.
•تاسو به هیڅکله هم له ماتي سره مخ نشئ، که د هغه څه لپاره وجنګېږئ چې تاسو پرې باور لرئ.
• ملګرتیا د نړۍ تر ټولو سخت شی دی، چې په ریښتنی معنا یې ځان پوه کړو.
• د کوم څه په اړه چې فکر کوئ، په راتلونکي کې هم هماغه څه درنه جوړېږي.
• په نړۍ کې هر څه هم غلط ندي، خو یوازې یو څه شیان دي، چې صحیح ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• هر وخت چې هنداره کې ځانته گورم، زه د کينتکي هغه کوچنى ماشوم گورم، چې نوم يې کاسيوس کلې و.

•که د غره سرته رسيدل غواړئ، نو مجبور یاست چې په هره ډبره پورته شئ.

• زه د ټولو بریاوو څخه خوښ یم. خو تر ټولو زیات د خپلو ناکامیو خوښ یم، ځکه چې یوازنى شى، چې زه يې سخت کار ته هڅولم،
هغه ماتې خوړل وه.

•د لوی اتل اوسیدلو لپاره باید تاسو باور ولرئ، چې تاسو تر ټولو ښه یاست.

•که غواړئ چې خوبونه مو ریښتیا شي ، نو تر ټولو ښه لاره داده چې له همدا اوس پاڅېږئ.

• بریا په دې معنا نده، چې هر وخت کامیابه کېږئ، ریښتني بریا داده چې د غورځیدلو وروسته پاڅېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۲۳)

•په اوسني وخت کې د کامیابه رهبرۍ کونجي واک ندی بلکې نفوذ دی.
کین بلینچارډ
• بې وزلي په خیرات نه؛ په انصاف سره له منځه ځي.
نیلسن منډیلا
•خپلو دښمنانو ته ښښنه وکړه خو نومونه یې هیڅکله هم مه هېروه.
جان ایف کینیډي
•د متفاوته اوسیدلو څخه هیڅکله هم مه ډارېږئ.
مایکل جکسن
•ژوند د اېسکریم په څېر دی، د ویلې کیدلو څخه وړاندې ترې خوند واخله.
•کله چې هیلې پای ومومي، خوشالۍ پیل کېږي.
توماس مېرټون
• زه دغه نړۍ ته یوازې راغلم، او یوازې به ځم نو ولې له خپل ملته غلا وکړم؟
ولسمشر محمد بخاري
• د خپلې میرمنې په انتخاب پورې هېڅکله هم مه خانده ځکه چې د هغې د انتخاب څخه یو تاسو یاست.
په خپل انتخاب باندې هیڅکله ویاړ مه کوه، ځکه چې ستا میرمنه، ستا د انتخابونو څخه یو انتخاب دی.
• که د سلو کسانو ګیډې نشې مړولای، د یوه خو کولای شې.
مادر تریسیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


•هر کله چې تاسو هر چاته موسکا کوئ، په حقیقت کې تاسو هماغه شخص ته ډالۍ ورکوئ.
مادر تریسیا
• تر هغې پورې هر څه ناممکن ښکاري، چې تر څو مو ترسره کړي نه وي.
نیلسن منډیلا
•حقیقت هغه څه دي چې احساس کوو یې، نه هغه څه چې په اړه یې فکر کوو.
استنلي کوبریک
•کامیابي هغه سکه ده چې بل مخ یې ناکامي بلل کېږي.
انتوني رابینز
•اول مشوره وکړه، دوهم تصمیم ونیسه، دریم انتخاب وکړه.
دا د کامیابۍ درې شرطونه نومیږي.
لوپ دورکا
• بریالیتوب د خوشالۍ لپاره کونجي نده، بلکې خوشالي د کامیابۍ لپاره کونجي شمېرل کېږي، که تهٔ د هغه څه سره مینه ولرې چې کول یې غواړې، نو بریا به ترلاسه کړې.
البرټ
• د دیوال په ماتولو وخت مه مصرفوه، بلکې هیله ولره چې دروازه پکې جوړه کړې.
کوکو چینل
• کله چې پیسې په لاس کې ولرئ، یوازې تاسو یې هیروئ، چې تاسو څوک یاست؛ خو کله چې پیسې په لاس کې ونلرئ، نو ټوله دنیا دا هیروي، چې تاسو څوک یاست.
بیل ګیټس
•که غریب وزیږیدلې، نو دا ستا تیروتنه نده،
که غریب مړ شې، نو دا ستا تیروتنه ده.
بیل ګیټس
•کله چې د سوک وهنې څخه تقاعد شوم، زما ریښتنی کار پیل شو، ما د مینې په ببرۍ کې سفر پیل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمد علي کلي

• زرګونه خلک شته، چې له مورږ سره کومک کوي، خو زرګونه خلک شته، چې مورږ ورسره کومک کوو.

محمد علي کلي

(۲۴)

•د هر تورې شپې وروسته روڼ سهار راتلونکی وي.

ټوپاک شاکور

• که د خلکو په اړه قضاوتونه کوې، نو دوی سره د مینې کولو لپاره به وخت ونه لرې.

مادر تریسیا

•په جګړه کې خبر او په سوله کې بد نشته.

بنجامین فرانکلن

•په هر حالت کې واده وکړه، که ښه ښځه دې په نصیب شوه، خوشالۍ به لاسته راوړې، که ښیګڼې یې نه درلودلې، فیلسوف به درنه جوړ شي.

سقراط

• مینه خوره کړه که هر چیرې لاړ شې.

مادر تریسیا

•یو دورغجن ملګری د زرو دښمنانو څخه خطرناکه کېدلای شي.

• ځوانان فکر کوي چې بوډاګان نه پوهیږي خو بوډاګان پوهیږي چې ځوانان هوښیاران ندي.

اګاتا کریستي

• تر هغې پورې هیڅوک هم شتمن کیدلای نه شي چې نور یې له خپلو شتمنیو خلاص کړي نه وي.

اندریو کارنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library


• د کامیابۍ لپاره زه باید هره شیبه په دې باندې باور ولرم چې زه تر ټولو غوره یم.
جان سینا
• کتابونه د هندارو په شان دي، تاسو یوازې هغه څه پکې لیدلی شئ چې د پخوا څخه ستاسو دننه ول.
کارلوس رویز
• که مینه کول غواړو نو لومړۍ باید ښښه کول هم زده کړو.
مادر تریسیا
• تاسو به هیڅکله تر ټولو ښه صبا ونلرئ،
که تر اوسه هم دا پرون په باره کې فکر کوئ.
بیل ګیټس
•ناکامي یوازې د کامیابۍ لپاره تمرین دی.
بیل ګیټس
• زه مجبور نه یم چې سنګه  یې تاسو غواړئ، هماغه شان واوسم.
محمد علي کلي
•د هوښیارتیا په کتاب کې ایمانداري او صداقت لومړی فصل دی.
توماس جیفرسون
• د شهرت ترلاسه کول شل کاله وخت غواړي خو له منځه تلل یې پنځه دقیقې هم نه نیسي، که تهٔ فکر کوې چې زه ټول کارونه په متفاوته ښه ترسره کوم.
وارن بوفیټ
•د نن درد د صبا کامیابي بلل کېږي.
•بدې خبرې مو د بد حالت سره مه ګډوئ، ځکه چې تاسو ته به ډېر ځله دا فرصت په لاس درشي چې بد حالت ته مو بدلون ورکړئ ، خو دا فرصت به هېڅکله هم په لاس در نه شي چې ویل شوو بدو خبرو ته بدلون ور کړئ.
• د هنر موخه زموږ د روحونو څخه د روزانه ژوند د ګردونو او خاورو پاکول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پابلو پیکاسو

- وړتیا او هنر د غریب سړي شتمني ده.

کوچ جان ووډن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۵)

رومي:

• د مینې شرحه کولو هڅه مې وکړه، خو کله چې مې مینه تجربه کړه، په بیانولو کې یې پاتې راغلم.
• چېرته چې درد وي، درمان ورته ضرور پیدا کېږي.
• شکونه او ویره مو د زړه دنیا وېشي.
• خاموشۍ ته غوږ ونیسئ، ډېر څه د ویلو لپاره لري.
• کله دې چې په لاره تلل پیل کړل، نو لاره به هم دربښکاره شي.
• سفر کول مو په ژوند کې مینه او قدرت بېرته راوړي.
• کله چې مو سفر کول غوښتل، له هغه چا مشورې مه اخله چې تر اوسه یې د کوره د باندې شپه هم نه وي تېره.
• د هر شخص دننه یو روښانه لمر شتون لري.
• زموږ مړینه د ابدیت سره د واده کولو په شان ده.
• د مینې په بیانولو کې دلیل بې معنا دی.
• که په زړه کې رڼا ولرې، نو د کور لاره پرې موندلی شې.
• خوشاله ورځې تاته په خپله نه راځي، تهٔ باید په خپله پسې ورشې.
• د شمعې په څېر اوسیدل ګران دي، د رڼا ورکولو لپاره لومړی باید ځان په اور وسوځوئ.
• داسې وځلېږه لکه چې ټول کاینات ستاسې دي.
• کله چې پوښتنه وکړې، نو ځواب به هم ترلاسه کړې.
• د مینې په تمځای کې به تاسو وګورئ چې له بوډاګانو هم ځوانان جوړېږي.
• غوږ ونیسه، او په لوی الله تل باور ولره، اجازه مه ورکوه چې له ویرې مو پښې او لاسونه وریپږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• دا مه پوښته چې د مينې پواسطه څه جوړيږي يا څه کيږي، يوازې د نړۍ رنګونو ته وګوره، پوه به شې.
• ستاسو د زړه اندازه د بحيرې په شان ده، لاړ شئ خپل ځان په خپله په کومه پټه کنده کې پيدا کړئ.
• مينه څه ده؟ _ خوشالي

## (۲٦)

•هغه څه ترلاسه کړه چې اړتيا ورته لرې.
هغه څه وکړه چې بايد ترسره يې کړې.
نو هغه څه به ترلاسه کړې چې غواړې يې.
ګوټفرايد ليبنيز
• موږ ډېر  فکر کوو خو احساس ډېر کم.
چارلي چاپلين
• مخکې له دې چې حالات اداره کړئ، لومړۍ بايد ځان اداره کړئ.
ناپيليون هېل
• دردونه هېر کړئ، خو د يو چا مهرباني هيڅکله هم مه هېروئ.
کانفيوسېس
•څوک چې ډېرې خبرې کوي، ژر سترې کيږي.
ليو زو
•راتلونکی د نن څخه پيل کيږي، نه د صبا څخه.
پوپ جان پايول

(c) ketabton.com: The Digital Library



• تراژيدي دا نده چې يوازې ياست، بلکې دا ده چې يوازې نه شو اوسيدلی.

البر کامو

• صادقه، بې تمې، ګټور او همېشنۍ ملګری د هر چا کتاب دی.

مارک تواين

• ځينې وختونه د يو کس په نه شتون کې ټوله نړۍ کم نفوسه ښکاري.

ډي لمارټين

• د مغروره خلکو په وړاندې مغروره اوسه، د دوی د عزت کولو يوازنۍ ژبه همدا ده ځکه چې ستا مهرباني ستاسو کمزوري ګڼي.

پايلو کويلو

• د ويرې او نفرت په نسبت د مينې او مهربانۍ خورول اسان دي.

پايلو کويلو

• که ته يې ماته ووايي زه به يې واورمه.

که ته يې راښکاره کړې زه به يې وګورمه.

خو که ته اجازه راکړې چې عملي يې تجربه کړم نو زه به يې ضرور زده کړم.

لاوزي

• تل اماده اوسه او تل ريښتنی.

کوچ جان ووډن

• که غواړې نور خلک خوشاله واوسي، د خواخوږۍ او رحم درلودل تمرين کړه.

که غواړې خپله خوشاله واوسې، د خواخوږۍ او رحم درلودل تمرين کړه.

دالای لاما

• چټک اوسه، خو له بيړې کار مه اخله.

کوچ جان ووډن

• له هماغه ځايه يې شروع کړه چېرته چې تاسو همدا اوس ياست.

هماغه څه استعمال کړه کوم څه چې تاسو لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه څه وکړه د کوم څه کولو چې وړتیا او لیاقت لرئ.

ارتور اشي

• خوشالي لاربښوونه ده نه یو ځای.

سیډني جي هاوېس

• د دارختلي مجرم په کور کې به د رسۍ خبرې نه کوې.

افریقایي متل

• وېره دوه معناوې لري یا د هر څه هېر کړه، وتښته.

یا راپورته شه د هر څه سره مخ شه.

انتخاب ستاسو په لاس کې دی.

زیګ زیګلار

• څوک چې د پنځوسو کسانو سره مینه لري، پنځوس غمونه به هم ورته ورغاړې وي، څوک چې د یو کس سره مینه نه لري، یو غم به هم نه لري.

بودا

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۲۷)

•د موږک په سترګو کې پیشو هم زمرى ښکاري.

الباني متل

•ښې ونې؛ ښه حاصل ورکوي.

ایټالوي متل

•مینه د جنګ په څېر ده، پیلول يې اسان دي، ختمول يې ګران دي، خو هیرول يې ناشونې دي.

•ښه ژوند کول، ښه نصیحت دی.

اسپانوي متل

•هره ورځ مو چې د يو څه کولو پریکړه وکړه، هماغه ورځ د نیکمرغۍ ده.

جاپاني متل

•که تاسو د يو چا سره مینه لرئ، خو هغه مو په کیسه کې هم نه وي؛ دا نو د هغه وچې ونې د ښورولو په څېر ده چې غواړئ، د هغې څخه د اوبو څاڅکي توی کړئ چې له هغو شبنم جوړ شي.

• د اور بلولو په وخت کې ټول خلک درنه چاپېره وي، خو د ایرو ټولولو پرمهال هیڅوک هم نه ښکاريږي.

افریقایي متل

•که مو ذهن قوي وي، مشکلې چارې هم درته اسانه ښکاري.

که مو ذهن کمزورى وي، اسانه چارې هم درته مشکله ښکاريږي.

چینایي متل

•په هغې لورې له کمانه غشى مه خوشې کوئ چې بیرته ستاسو طرف راګرځي.

کوردي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


- مرغۍ د هغې د الوت څخه هم پیژندلی شو.

روسي متل

- اړتیا هېڅ قانون نه پیژني.

ایټالوي متل

- د تیارو وروسته پیشوګانې هم پړانګان ښکاري.

امریکایي متل

- ناپوهان د اوبو په منځ کې هم تږي وي.

ایتوپیایي متل

- د هرشي پیل کمزوری وي.

آیرلېنډی متل

- بې اغزیو ګلان نشته.

چینایي متل

- رېښتنی هنرمند هر څه په خپل سر کوي، د انتقاد کوونکو په کیسه کې نه وي.

الماني متل

- په هر حالت کې رېښتیا ووایه، او ورپسې منډه کوه.

یوګوسلاویې متل

- د ونو څخه د میوو د ټولولو پرمهال لومړی د هغه څانګو میوه راټوله کړئ چې له تنې یې ډېرې لرې وي.

ساموني متل

- عادت د لیوني سپي د داړلو نه هم بد دی.
- د مېړو هغه لښکر چې لاربښوونه یې زمری کوي، د زمریانو هغه لښکر ته ماتې ورکولای شي چې لاربښوونه یې مېږه کوي.

عربي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۲۸)

•دا نیکمرغي ده چې مور ته یې دوستان راکړي، خو دا بدمرغي ده چې د هغو ثابتول غواړو.
•یوازې ښځې دي چې ځینو نارینه وو ته په هغه ځای کې بریالیتوب ور په برخه کولای شي، چې ډېرو نورو پکې ماتې خوړلې وي.
سومالیایي متل
•په څه چې پوهیدل اړین وي، د هغو زده کول هم ستونزمن وي.
مصري متل
•په لومړي ځل د کتاب لوستل، د یوه نوي دوست سره د لیدلو په شان وي.
خو د دوهم ځل لپاره د کتاب لوستل، د یوه پخواني ملګري سره د لیدلو په څېر وي، چې تر لومړي یې خوند ډېر وي.
چینایي متل
•که ماهیان نه شې نیولای، نو سیند مه ملامتوه.
مصري متل
•ماشومان د ژوند ډالۍ دي.
افریقایي متل
•نه اوریدلي موسیقي هیڅ ارزښت نه لري.
مصري متل
•ماشومانو ته د مور او پلار څخه د پرهیزګارۍ او سوداګرۍ پاتې کیدل دوی تر ټولو غوره څه دي.
انګلیسي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•سیند ته دیکه مه ورکوه، هغه په خپله بهیدلی شي.پولنډي متل

•په خیرات سره هېڅکله غریب کیدلای نه شئ.
په غلا سره هېڅکله شتمن کیدلای نه شئ.
په شتمنۍ سره هېڅکله هوښیار کیدلای نه شئ.
انګلیسي متل
•ترټولو نږدې دوست کله ناکله ستاسو ترټولو سخت دښمن هم کېږي.
ایتوپیایي متل
• موږ لومړۍ ناپوهان وو خو تجربو رانه هوښیاران جوړ کړل.
د نیمبیا هیواد متل
•د ځان د اداره کولو لپاره له ماغزو کار واخله خو د نورو د اداره کولو لپاره له زړه کار واخله.
موریتاني متل

• له هغه ریښتیاوو چې د ورانۍ سبب ګرځي، هغه دروغ غوره دي چې یو څه ته سمون ورکوي.
د سینیګال هیواد متل
•تاسو یوازې مرغان ستاسو په سر باندې له ځالې جوړولو منعه کولای شئ، نه هغه ستاسو په سر باندې له الوتلو.
نایجیریایي متل

•د دروغجن په خوله کې ریښتیا هم شکمن ښکاري.
د ارجینټاین متل
•دعوې او لانجې خلاصیږي ، خو بدې خبرې هیڅکله هم نه هېریږي.
افریقایي متل
•چا چې د خوبونو لیدل بس کړل، هغوی ماتې وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسټرالیایي متل

•له  هغه خلکو سره  وخت مه تیروئ، چیرته چې مو عزت نه کیږي.

موریتاني متل

•د سرو زرو بټنه په شلیدلې واسکټ مه خښوئ.

البانیا متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۲۹)

•که غواړئ، ریښتیا معلوم کړئ، له ماشوم یې وپوښته.

افغاني متل

•خبرې وزرونه نه لري خو زرګونه میله لرې تللی شي.

کوریایي متل

•بیزو د نورو په تقلید او پېښو کولو سره یوه ورځ خپله غاړه پرې کړه.

افریقایي متل

• که دوستانو او ملګرو سره وخت تیر کړئ، نو بد وختونه ژر هیرولی شئ.

آلباني متل

• په زور سره هېڅ څه هم ښه کیدلای نه شي.

بلغاریایي متل

• که چیرې تاسو ویښ وئ، او هیڅ ډول ستونزې او مشکلاتو کې ګېر نه وئ، نو پوه شئ چې تاسو مړه یاست.

روسي متل

• شک د پوهیدلو کونجي ده.

ایراني متل

• د اوبو سره وچه ډوډۍ، له هغه کیک څخه غوره ده چې سرې ته تکلیف پرې جوړیږي.

روسي متل

• تبر تل دا هېروي، چې ونه خوک ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


افريقايي متل

• لکه څنګه چې صابون بدن پاکوي، همداډول اوښکې روح پاکوي.

يهودي متل

• يووالی قوت دی، بيلوالی کمزوري ده.

سوهيلي متل

• د يوې کيسې ويل زرګونه خبرې لري.

امريکايي متل

• بدرنګي د ښو اخلاقو سره د ښکلا نه غوره ده.

نايجيريايي متل

• که غواړې، هوښيار شې نو ډېرې  خبرې مه کوه.

عربي متل

• يوه نن ورځ د راتلونکو لسو ورځو بهتره ده.

جرمني متل

• د يو شي په اړه د سل ځلو اوريدلو څخه يو ځل ليدل ښه دي.

روسي متل

• د زړور کسانو مرګ يو ځل وي، د ډارنو سل ځله.

امريکايي متل

• له واده کولو وړاندې دې دواړه سترګې خلاصې لره، له واده وروسته يوه تل پټوه.

د جميکا متل

• کومو کسانو چې د ترخو شيانو خوند نه وي څکلی، د خوږه شيانو ارزښت  نه پيژني.

جرمني متل

• نهه ورکړه، لس وساته.

کوردي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۳۰)

•پخوانۍ کیسې د پل په شان دي، رېښتياوو ته مو رسوي، تعقیب یې کړئ.

د سعودي عربستان متل

•ښکلا مو له منځه ځي، خو هوښيارتيا مو د تل لپاره درسره پاتې کېږي.

کوردي متل

•که غواړې، عزتمند شې نو لومړی ځانته په خپله عزت ولره.

اسپانوي متل

•مدافع وکیلان ستاسو ستونزو ته په یوه سترګه ګوري، خو ستاسو جيبونو ته په دواړو سترګو.

د جمیکا متل

•هغه سترګې چې ژړلی نه شي، ليدلی هم نه شي.

سویډني متل

•که ښه ملګری غواړې، خپله هم ښه واوسه.

انګلیسي متل

•څه دې چې په سترګو نه وي ليدلي، په خوله یې شاهدي مه ورکوه.

یهودي متل

•د باران شور، ترجمې ته اړتیا نه لري، ټول پرې پوهېږي.

چینایي متل

•د هوښيار پلار؛ لوڼه هوښیارې وي خو د هوښیارې مور؛ زامن هوښيار وي.

روسي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•بېزو، د ادرک په خوند نه پوهېږي.

هندي متل

•ورونه او خويندې د لاسو او پښو څخه ډېر يو بل ته نږدې وي.

د ويتنام متل

•خبر واوسه، يو دښمن تل درسره د کمپلې لاندې ويده کېږي.

اندونېزيايي متل

•که زمري ليکل کولای شول، نو هره کيسه کې به يې خپل ښکار ستايلو.

افريقايي متل

•کرکټر د حامله توب په شان دی، تر ډېره يې نه شئ پټولای.

افريقايي متل

•کله چې پوه شې،  ستا ستونزه حل لري، نو بيا ولې انديښنه کوې؟

کله چې پوه شې،  ستا ستونزه حل نه لري، نو بيا ولې انديښنه کوې؟

چينايي متل

•يوه ثانيه وخت، په يوې انچه طلا نه شې اخيستلای.

چينايي متل

•حقيقتونه او سره گلونه؛ دواړه اغزي لري.

اسپانوي متل

• مينه په پټولو سره نه پټه پاتې کېږي.

عربي متل

•څوک چې له مرگ ويرېږي، له ژونده خوند نه شي اخيستلای.

اسپانوي متل

•ټول تاسره خنديدونکي کسان ستا دوستان نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


آلماني متل

(۳۱)

•د موسکا قیمت له بریښنا څخه ډېر کم دی، خو نورو ته د بریښنا څخه زیاته رڼا ورکوي.

سکاټلینډي متل

•وینه په وینه نه مینځل کېږي.

افغاني متل

•که ته همدا اوس همدغه خط لوستلای شې، نو له ښوونکي دې مننه وکړه.

امریکایي متل

•مناسبه خندا او مناسبه خوب، د هرشي لپاره تر ټولو غوره درملنه ده.

آیرلېنډي متل

•زیاتره وختونه د زیاتره خلکو پوزې؛ د هغوی د خولو له امله ماتیږي.

آیرلېنډي متل

•پښې مو هغه ځای ته رسوي، کوم ځای مو چې زړه غواړي.

آیرلېنډي متل

•د ملګري سترګې، د خپل ځان د لیدلو لپاره غوره هنداره ده.

آیرلېنډي متل

•د هر شي درملنه شته چې مرګ نومیږي.

پرتګالي متل

•په مهربانۍ سره د اوسپنې دروازې هم خلاصیږي.

ترکي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•د اواز لرونکي ډول دننه بل څه نه وي، د تشې هوا پرته.

فلپيني متل

•کله چې پاچاهان خپله لاره ورکه کړي، له دوی نوکران جوړېږي.

افريقايي متل

•کله چې يو څوک، هر چېرته او په هر ميدان کې خپله وړتيا ښايي، داسې ورځې به پرې را شي چې د پټيدلو لپاره به دې ځای په لټه کې شي.

افريقايي متل

•تاسو چې هر چېرته وغواړئ، تللی شئ، خو له ځانه نه شئ تښتيدلی.

ناروېژي متل

•دا فکر مه کوه، چې اوبه غلې دي او تمساح پکې نه شته.

مالاوي متل

•جاهلان په يوه ساعت کې دومره پوښتنې کولای شي، چې پوهان يې په اوو کالو کې هم نه شي ځوابولای.

انګليسي متل

•خاموشه کسان، تر ټولو ښه غوږ نيوونکي وي.

جاپاني متل

•کله چې نوی پيدا شئ، تاسو ژاړئ او نوره خلک خوشاله وي.

خو کله چې مړ شئ، نوره خلک ژاړي او تاسو خوشاله وئ.

امريکايي متل

•کتابتون د ذهن روزلو د دوايۍ، ګودام (ساتنځی) دی.

مصري متل

• تشه بشکه ډېر غږ پورته کوي.

روسي متل

•مرګ د ژوندانه، ناوې بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اندونيزيايي متل

(۳۲)

•مات شوی څنګل تل د لستوڼي دننه ساته.
چينايي متل
•استادان يوازې دروازې خلاصوي خو شاګردان بايد په خپله ور ننه وځي.
چينايي متل
•که يو نسل ونې کينوي، بل نسل به يې سيوري ته کيني.
چينايي متل
•که يو څوک پوښتنه وکړي، د پنځو دقيقو لپاره ناپوه ګڼل کيږي، خو که يو څوک هيڅ پوښتنه ونه کړي، د تل لپاره ناپوه ګڼل کيږي.
چينايي متل

•د عالم سره يو ساعت خبرې د لسو کالو د مطالعې څخه غوره دي.
چينايي متل
•سره زر هم پوره خالص نه شي اوسيدلي ، او بشر هم هميشه ښه نه شي کيدلای.
چينايي متل
•ښکلا د ښځې هوښيارتيا ده او هوښيارتيا د سړي ښکلا ده.
چينايي متل
• د ټولو دوست، د يو دوست هم نه دی.
اسپانوي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•که په واوره کې مزل کوئ نو تاسو د خپلو پښو خاپونه نه شی پټولای.
چینایي متل
•علم شتمني ده، چې تاسو يې هر وخت او هر چیرته څښتن یاست.
چینایي متل
• موږ د بریالیتوب څخه ډېر کم څه زده کولای شو، خو د ناکامۍ څخه له حده زیات.
جاپاني متل
•مات لاس کار کولای شي لیکن مات زړه نه.
فارسي متل
•هیڅ څه هم سخت او مشکل نه دي، که يې موږ په ریښتیني ډول غواړو.
پولنډي متل
• هیڅ وخت هم اجازه مه ورکوئ چې واړه ناچیزه شیان خوشالۍ درڅخه پټې کړي.
انګلیسي متل
•ځنګل له فیل څخه هم زیات پیاوړی دی.
د جنوبي افریقا متل
•زمری چې ښکار نه کړي پیدا، له مجبورۍ وابنه ژويي.
کینیایي متل
•جګړې سترګې نه لري.
د ختیځې افریقا د سوهیلي ژبې متل
•کله چې کوم پاچا ښه مشاورین ولري، د هغه ټوله سیمه کې سوله وي.
اشانټي (د افریقا یو قوم) متل

•سوله قیمتي څیز دی، خو دا یو ارزښت لرونکی لګښت دی.
کینیایي متل
•د ملخانو جنګ ته کارغه خوشاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لسوتو هیواد متل

(۳۳)

•خندا هغه ژبه ده چې د ټولو ملتونو خلک پرې پوهیږي.

د چاد هیواد متل

• د خوښیو شریکول خوښي دوه چنده کوي.

د غمونو شریکول غمونه نیم کموي.

سوډاني متل

• څوک چې د سندرو ویلو هیله او امید لري همیشه ځانله د ویلو لپاره یو څه پیدا کوي.

سوډاني متل

•هوښیاران خپلې پریکړې په خپله کوي او جاهلان د خلکو په خبرو پسې ګرځي.

چینایي متل

•هرې مور ته خپل ماشوم د نړۍ تر ټولو خوږ او ښایسته ماشوم وي.

چینایي متل

- د مینه لرونکي زړه ښښتن همیشه ځوان وي.

یوناني متل

• د کتابونو لوستل له زړه غمونه کموي.

د مراکش یا المغرب متل

• دردونه درنه هوښیار شخص جوړوي.

سویډني متل

•د ښه دوست د کور لاره هیڅ وخت هم اوږده نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډنمارکي متل

• نايي خپل ويښته په خپله نه جوړوي.

افريقايي متل

• هغه طرف غشى له کمانه مه خوشى کوئ چې بيرته ستاسو په طرف راګرځي.

کوردي متل

• غمونه له وخته وړاندې د انسان ويښته سپينوي. ايټالوي متل

•د حال وخت په ځېر وخت بيا نه پيدا کېږي.

انګليسي متل

• وخت وزرونه لري.

انګليسي متل

•هغه خبرې چې له زړه راوځي؛ زړه ته ننوځي.

هيبرا متل (د اسرايلو ژبه)

• مخکې له دې چې تږي شئ، ځان ته کوهي وکيندئ.

چينايي متل

• ړوند هم کله ناکله کارغه ولي.

فلېميش متل (د بيلجيم يوه ژبه)

• نارينه که د کور سر او تنه بلل کېږي خو ميرمنې يې زړه بلل کېږي.

کينيايي  متل

• لمر د ټولو لپاره يو شان راخيږي.

د کيوبا هيواد  متل

•د ښه دوست په څير بله غوره هنداره نشته.

د کېپ وريډ متل (افريقايي هيواد)

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۳۴)

•ځوک چې نڅا نه شي کولی؛ وايي چې انګړ هوار نه دی.

افريقايي متل

•پام! ښه لسو ته ډېر نژدې دي.

کينيايي متل

•د يوې ونې پوټکي په بله ونه پورې نه نښلي. افريقايي متل

• د يوې موسکا په کولو سره ستاسو عمر لس کاله زياتيږي.

چينايي متل

•مينه او قهوه دواړه هغه وخت خوند کوي چې کله ګرمې وي.

ايتوپيايي متل

•حتی شترمرغ چې اوږده غاړه او تيزې سترګې لري هم نه شي کولای چې راتلونکی ووينې او نه شي پوهيدلی چې راتلونکې کې به څه پېښ شي.

موږ خو انسانان يو.

د مازی (جنوبي کينيا يو قوم) متل

•که مينې ته ناروغي ووايو نو د دردونو ګالل يې درملنه ده.

د کيمرون (د مرکزي افريقا هيواد) متل

•کله چې د پلار لاره تعقيب کړئ، نو د هغه په شان تلل به هم زده کړئ.

افريقايي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•که له حقیقتونو سترګې پټې کړئ نو یوه ورځ به په ناڅاپي توګه ورسره مخ شئ.
افریقایي متل

•زده کړه په بحیره کې د بېړۍ چلولو په شان ده، هیڅوک هم ټوله بحیره نه شي لیدلی.
د مرکزي افریقا متل
•که په لاره باندې تللی شې نو نڅا هم کولای شې؛ که خبرې کولای شې نو سندرې هم ویلای شې.
د زیمبابوې هیواد متل
•ځینې خلک په یوه ډېره دوه مرغۍ وژني.
چینایي متل
•که د ماضي له تېروتنو دې زده کړه وکړه، راتلونکې وخت کې به هیڅکله هم تېروتنه ونه کړئ.
چینایي متل
•د ډول پټول اسانه دي لیکن د داسې ځای موندل چې ډول پکې ووهې، ډېره ګرانه ده.
د نایجېریا هیواد متل
•د سویې عاجزي هغه د ښکاري له غشي څخه نه شي ساتلای.
د نایجېریا هیواد متل
•بیزو چې کله پاخه شوي کیلو ته نه شي رسیدلی؛ وایي چې اومې دي.
د یوګانډا هیواد متل
•هوښیارتیا د اور په شان ده؛ خلک یې له نورو اخلي
د کانګو متل
•د هنر درلودل له قدرت درلودلو څخه زر ځله بهتر دی.
پولنډي متل
•که د یو څه پیل ښه وي نو پای به یې ډېر ښه وي.
ایټالوي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



• د ساز مینانو په غاړه کې تل ډولونه وي.
گانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل

(۳۵)

•که چا خفه کړئ، ببښنه ورته وکړئ.
که مو څوک خفه کړ، ببښنه ترې وغواړئ.
افریقایي متل
• که تاسو خورا ښکلي هم وئ، بیا هم یو هنر زده کړئ؛ ځکه چې تاسو ته څوک په ښکلا خواړه نه درکوي.
افریقایي متل
• په لویه چوکۍ باندې په کیناستلو سره دتاسو ځخه پاچا نه جوړیږي.
افریقایي متل
• تاسو دهیچا ځخه هم د هغه بخت او طالع نه شئ اخیستلی.
کینیایي متل
• ښکلا بغیر له نازه دهغه گلاب په شان ده چې خوږ بوی نه لري.
افریقایي متل
• هغه کور کې چې ښځه نه وي، لکه غوجل کې چې غواگانې نه وي.
افریقایي متل
• په تیارو کې واړه ستوري هم ځلیږي. ډنمارکي متل
• ماشومتوب د سره گلاب په څیر دی خو بوډاتوب د اغزیو
هیبرا متل (د اسرایلو ژبه)
•هوښیار او بااحتیاطه خلک خطونه سرچپه هم لوستلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترکي متل

• کله چې غوصه وئ، چاته لیک مه لیکئ.

چینایي متل

•یوازې یوه ښه او نیکه خبره مو په ژمي کې درې میاشتې گرم ساتلی شي.

جاپاني متل

•دوی غوښتل چې موږ د خاورو لاندې کړي، خو دوی نه پوهیدل چې موږ تخمونه( دانې) یو.

مکسیکوي متل

•څوک چې د هرشي غوښتنه لري، هر څه بایلي. سوهیلي متل

•سفر کول زده کړه ده.

کینیایي متل

•هغه خبرې چې د زړه څخه راوځي، د نورو زړونو ته ننوځي

هیبرا متل (د اسرایلو ژبه)

• موږ په مار ځکه ډېر تمرکز کوو چې لړم رانه هیر شوی دی.

مصري متل

•څوک چې ریښتیا وایي، ډیرو خبرو کولو ته اړتیا نه لري.

پولنډي متل

• کله چې تاسو دننه دوښمنان ونه لرئ نو بهر دوښمنان درته هیڅ زیان نه شي رسولای.

د الجیریا متل

•هره ککرۍ باید خپل فکرونه وکړي.

د لیبریا متل

•که د چا څخه دې د جامو پوښتنه کوله، لومړۍ دده جامو ته وگوره، چې څنگه جامې یې پر تن دي.

د بنین (افریقایي هیواد) متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۳٦)

• یوه میرمنه په باغچه کې د گل په څېر ده؛ چې د هغې خاوند د هغې څخه د کتارې په شان تاو وي او له هر څه یې ساتي.
گانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل
•که غواړئ حافظه مو قوي شي نو خلکو ته په قرض پیسې ورکړه.
افریقایي متل
• زخمي کیدل ستونزمن نه دي بلکې دوباره جوړیدل ستونزمن دي.
د جنوبي افریقا متل
•د کرکې درملنه بیلتون دی.
بورکینا فاسو متل (د لویدیځې افریقا هیواد)
• شتمني په پوزه کې د ویښتانو په شان ده که ډېره زیاته شي یا ډېره کمه؛ درد درته رسوي.
د مالاگسي متل
•که غواړئ بیزو ووژنئ، نو په برگو سترگو مه ورگورئ.
کینیایي متل
•مشران یې دوه طرفه نه خوري.
ملاوي (د ختیځې افریقا هیواد) متل
• ژوند یو پیاز دی چې د سپینولو پر مهال مو یو ځل خامخا ژړوي.
فرانسوي متل
• که جاهل مو تعقیب کړ، نو تاسې له ځانه په خپله جاهل جوړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمیکا متل

• رېښتنی اتل دا نه وايي چې يوازنې اتل هغه دی.

فلپیني متل

• يوازې خدای پوهيږي چې صبا ته څه پېښيږي. بوروندي (افريقايي هيواد) متل

•د مشرانو مړينه د کتابتون د سوځولو په شان ده.

افريقايي متل

• موږکان د پيسو د اوسيدلو ځای کې نڅا نه کوي.

د کېپ وريډ متل (افريقايي هيواد)

•په پيل کې تيروتنه په پای کې له تيروتنې ښخه غوره ده.

د کيمرون (د مرکزي افريقا هيواد) متل

•هوښيارې ميرمنې ډېر څه د ويلو لپاره لري؛ خو بيا هم چوپې او خاموشه وي.

د المغرب متل

•ډوډۍ بغير له چکنۍ؛ کورنۍ بغير له ښځې بې معنا دي.

ايتوپيايي متل

•کله چې کومه جلۍ درسره مينه نه کول غواړي نو تاسو ته د ورور په نوم غږ کوي.

د ايوُري کوسټ متل (د لويديځې افريقا هيواد)

•مينه د کوچني ماشوم په څېر ده؛ مينه ناکه خبرې غواړي.

د کانګو هيواد متل

• په ډېرهڅه کولو سره بيزو هم له ونې ټوپ وهل زده کوي.

د يوګانډا هيواد متل

•د ماشوم زيږدلو وړاندې ورته جامې  مه جوړوئ.

تانزانيايي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۳۷)

•چیرته چې مینه وي؛ هلته تیارې نه وي.
بورونډي (افریقایي هیواد) متل

•تاسو له بوډا ښځه په منډه کې مخته کیدلی شئ خو په هوښیارتیا او خبرو کې تاسو تل له هغه شاته یاست.
تانزانیایي متل
• د ماهیانو او مرغانو ترمنځ مینه شوني ده خو په یوځای د اوسیدلو لپاره هیڅکله هم جونګړه نه شي جوړولی.
افریقایي متل
•هغه کولو او ناکامیدلو ته لتې نه شو ویلای. افریقایي متل
•د خپلې ښکلا په اړه داسې قضاوت مه کوه چې تاسو ته څومره خلک در ګوري بلکې د هغه خلکو له حسابه یې وکړه چې تاته  موسکا کوي.
افریقایي متل
• چې موسیقي بدله شي نو نڅا هم بدلون مومي. افریقایي متل
•خوشاله اوسیدل دا بادشاهۍ ښځه غوره دی.
افریقایي متل
• که یو سړی ښځه ونه لري داسې ښکاري لکه ګلدان چې ګلان نه لري.
افریقایي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


• د بد خويه زوی مور هم بد خويه بلل کېږي.
د ايوُري کوسټ متل (د لويديځې افريقا هيواد)
•هغه خبرې چې د زمري د وژلو وروسته يې خلک دده په اړه کوي، په ژوندوني ( چې کله ژوندی وي) نه شي کولای.
د گابون متل
•څوک چې ښښنه کوی؛ کاميابي هم لاسته راوړي.
د گامبيا (د لويديځې افريقا) متل
•څوک چې ډېر پوهيږي ډېرې خبرې نه کوي.
ايتوپيايـي متل
•يوازې ريښتني دوستان درته وايي؛ کله چې په مخ مو کوم څه نښتي دي.
بوروندي (افريقايي هيواد) متل
•که د بد وکړل، په ياد يې ولره؛ که د ښه وکړل، هېر يې کړه.
د الجيريا متل
•څوک چې خواړه يوازې خوري نو د نورو څخه يې د خوند پوښتنه هم بايد ونه کړي.
افريقايي متل
• که نارينه سره چا بد وکړل؛ هيروي يې، خو هيڅکله هم ښښنه نه ورته کوي خو که د ښځې سره چا بد وکړل؛ ښښنه ورته کوي، خو هغه بد هيڅکله هم نه هيروي.
افريقايي متل
• چې په لاس کې مو کوتک وي، مار پرې وژلی شئ.
کينيايي متل
•يوازې په يوه غشی هم فيل پيژندلی شو.
کينيايي متل
• ټول ريښتيا ښه وي، خو د ټولو ويل ښه نه وي. افريقايي متل
•ښه گاونډي له هغه وروره غوره دی چې له تاسو لرې اوسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جنوبي کوريا متل

(۳۸)

•پاچاهي د سمندر په شان ده چې تر ټولو تجربه کاره ماڼو هم پکې ډوبيدلی شي.
د يوګانډا هيواد متل
• که غواړئ چې نورو ته د مينې ورکولو وړ وګرځئ، نو لومړی د ځان سره مينه ولرئ.
افريقايي متل

•د واړه ماشوم  هم عزت کوه، تر څو هغه دې عزت وکړي.
بانتو متل
(د مرکزي او جنوبي افريقا يوه ژبه)
•صبر او زغم هغه کونجي ده چې ټول مشکلات او ستونزې حلوي.
سوډاني متل
• مچان هم غوړونه لري.
د مازي (جنوبي کينيا يو قوم) متل
•چيرته چې سيند وي، تاسو هلته يوازې پل جوړولای شئ.
کينيايي متل
•ونې  په خپلو ريښو پياوړې وي.
د زيمبابوی هيواد متل
•تاسو پوهېږئ چې تاسو د چا سره مينه لرئ خو تاسو هيڅکله هم نه شی کولای چې پوه شئ چې څوک درسره مينه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نایجېریا هیواد متل

• په ګډه کار بغیر له نظمه ګډوډې منځته راوړي.

د زیمبیا متل

•تر ټولو غریب شخص هغه څوک ندی چې پیسې نه لري بلکې هغه څوک دی چې په سترګو څه لیدلای نه شي.

ګانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل

•دوه میړیان یو ملخ کشولی شي.

افریقایي متل

•د ماشوم خندا د کور رڼا ده.

افریقایي متل

•د چا په ظاهري حالت قضاوت مه کوه، شاید یو شتمن زړه د یوه زاړه کوټ څخه لاندې وي.

د سکاټلینډ هیواد متل

•هیڅ خبره نه ده، که تاسو په غلطه لاره هر څومره تللي وئ؛ بیرته تاو شئ.

ترکي متل

•د کینې او کرکې له منځه وړلو هیڅ درمل نه شته.

افریقایي متل

•پوهه قدرت دی.

کینیایي متل

•د ګلانو لپاره باید اغزو ته هم اوبه ورکړو.

افریقایي متل

•په ښو خبرو خواږه نه پیدا کېږي.

نایجیریایي متل

•ماشومان د مور په بدرنګۍ نه خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


گانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل
• زاړه پیشو هیڅکله نځا نه شي زده کولای. د المغرب متل

(۳۹)

•فیلان که موږکان ووژني؛ اتلان نه دي.
افریقایي متل
•ځینې شتمن، خواړه له خونده په خاورینو لوښو کې خوري.
د کیکویو متل
•ځوک چې له کوره وتلي نه وي، خپله مور ورته د نړۍ تر ټولو ښه خواړه پخوونکي ښکاري.
د ګانډا هیواد متل

•ماشومان د روښانه سپوږمۍ په څیر دي.
د مازي (جنوبي کینیا یو قوم) متل
• د کور زیوارت ماشومان دي.
افریقایي متل
•ځینې وختونه تر ټولو ښه نځاګر هم په سټیج لویږي.
افریقایي متل

• هوښیارتیا ناپایه ( پای ته نه رسیدونکې) شتمني ده.
سوهیلي متل
• د سختو ستونزو حل یوازې هوښیاران راباسي.
د اکان (افریقایي ژبه) متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



• له موره هیڅوک هم هوښیاران پیدا نه دي.

افریقایي متل

•هوښیاران په هرڅه کې ځانته لار پیدا کوي.

تانزانیایي متل

•که تاسو له کبره ډک وئ، نو د پوهې لاسته راوړلو لپاره تاسو ځای نه لرئ.

افریقایي متل

•که د پلار لاره دې تعقیب کړه، نو د پلار په شان تلل به هم زده کړئ.

اشانتي (د افریقا یو قوم) متل

•شتمني؛ که استعمال یې کړئ بالاخره پای ته رسیږي.

زده کړه؛ که استعمال یې کړئ لا پسې زیاتیږي.

د ختیځې افریقا د سوهیلي ژبې متل

•که دې زده کړه؛ نو نورو ته به یې هم ور زده کړې.

ایتوپیایي متل

•ماشومان په خاپوړو سره ودریدل زده کوي.

افریقایي متل

•په ځوانۍ کې زده کړه د تیږې د توږلو په شان ده. المغربي متل

•موږ هرڅه د جاهلانو په څیر شروع کوو او هوښیاران رانه تجربې جوړوي.

تانزانیایي متل

•که ملګري او دوستان دې راوښودل؛ نو زه درته ستا شخصیت درښایم.

افریقایي متل

•که ستاسو سره دټولو وسایلو ترمنځ یوازې څټک وي نو هرې ستونزې ته د میخ په نظر وګورئ.

افریقایي متل

•تاسو د هغه ماشوم نوم نه شی ایښودلی؛ چې تر اوسه لا پیدا نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


افريقايي متل

(۴۰)

•غمونه هم ارزښتناکه شتمني ده، يوازې په هغه چا کې موندل کېږي چې تاسو ورسره مينه لرئ.
د ماداغسکر متل
•که مو له ښکلي ښځې سره واده وکړ، پوه شه چې له ستونزو او مشکلاتو سره دې واده وکړ.
د ليبريا متل
•که غواړئ وپوهيږئ چې ستاسو ريښتني دوستان څوک دي؛ له هغوی سره سفر وکړه شپې او ورځې ورسره تيرې کړه، تر لرو لرو سيمو يې ملتيا وکړه. آنګولا (د مرکزي افريقا هيواد) متل
•د اړتيا په وخت کې د يوې کاشوغې سوپ درلودل له يوه ديګي سوپ درلودلو څخه غوره دی.
آنګولا (د مرکزي افريقا هيواد) متل
•دا ډېره غوره ده چې ونې ته پورته شئ او لاندې ترې راوغورځئ او ملا مو ماته شي؛ له دې نه چې د يو چا په مينه کې غرق شئ خو هغه دې زړه مات کړي.
افريقايي متل
•کله چې تاسو پوهېږئ چې څوک د هغه ملګري دي نو تاسو په دې هم پوهېږئ چې هغه څه ډول انسان دی.
افريقايي متل
•که يوځل دې دوکه کړم ته وشرمېږه؛ که دوهم ځل دې دوکه کړم زه بايد وشرمېږم.
چينايي متل
•هره ورځ لږ باران کولای شي چې سيندونه تل جاري وساتي.
افريقايي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



•که په شروع یې سم وپوهیږې، په پای کې به له ستونزو او مشکلاتو سره مخ نه شئ.
افریقایي متل

•هغه ماشوم چې مور په شا کړی وي، دا لارې په اوږدوالي نه پوهیږي.
افریقایي متل
•هغه ځوک چې خواږه په چټکۍ سره خوري نو خوله یې هم سوځیږي.
کینیایي متل
•که تاسو یو ځوک وګورئ چې هغه ستاسو سره د پیژندلو ویریږي نو ارومرو کوم جرم یې ترسره کړی.
نایجیریایي متل
• هغه میرمنه چې په خپل واده کې له ستونزو سره مخ وي، خپل راتلونکي نسل ته هیڅ مشورې نه شي ورکولای.
ناجیریایي متل
•هغه سړی چې دروغ نه شي ویلای؛ د واده دې لاس ووینځي.
د زیمبابوې متل
• که تاسو ودانۍ جوړوئ خو ناڅاپه مېخ ماتیږي؛ نو تاسو د ودانۍ جوړول پریږدئ که مېخ بدلوئ؟
ریواندا (د ختیځې افریقا هیواد) متل
•که تاسو بازار کې حامله اوزه وګورئ نو ددې معنا لري چې هغه کور کې بې شمیره ستونزې شتون لري.
ګانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل
•که نیا درته څه وویل له موره یې مه پوښته چې دا رښتیا دي
د ګانا (د لویدیځې افریقا هیواد) متل
• د جاهلانو دوست جاهل وي او د هوښیارانو دوست هوښیار وي.
افریقایي متل

(c) ketabton.com: The Digital Library


•هغه څوک چې هره ورځ د يو څه لپاره حرکت کوي له هغه چا غوره دی چې بخت او طالعو ته انتظار کوي. افريقايي متل

•که د هګیو ټوکرۍ وړئ نو نڅا نه شی کولای. افريقايي متل

## قلم

•که چیرې قلم مو ورک کړو؛ نو قلم درسره نشته.
که قلم نه وي، نو د درس نوټونه هم نشته.
که د درس نوټونه نه وي؛ نو مطالعه هم نشته.
که مطالعه نه وي، نو ازموینو کې کامیابي هم نشته.
که کامیابي نه وي؛ نو ډیپلوم هم نشته.
که ډیپلوم نه وي؛ نو وظیفه هم نشته.
که وظیفه نه وي؛ نو پیسې هم نشته.
که پیسې هم نه وي؛ نو خواړه هم نشته.
که خواړه نه وي؛ نو د بدن طاقت مو هم نشته.
که د بدن طاقت مو نه وي؛ نو د بدن ښکلا مو هم نشته.
که دبدن ښکلا مو نه وي؛ نو کوم مین مو هم نشته.
که کوم مین مو نه وي؛ نو واده هم نشته.
که واده مو نه وي؛ نو ماشومان هم نشته.
که ماشومان مو نه وي؛ نو کورنۍ هم نشته.
که کورنۍ مو نه وي؛ نو خوشالۍ هم نشته.
که خوشالۍ نه وي؛ نو صحت هم نشته.
که صحت نه وي، نو ژوند هم نشته.
پام! ودې لیدل چې که قلم درسره نه وي، نو هیڅ څیز هم نلرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ستا مینه

•تا ویل چې زه د باران سره مینه لرم، خو کله چې باران وریدل پیل شول تا په خپل ځان چتري ونیوه،تر څو باران دې لمده نه کړي.
تا ویل چې زه د لمر سره مینه لرم، خو کله چې لمر راوختو، تۀ د سیوري په لټه کې شوې؛
تا ویل چې زه د باد سره مینه لرم، خو کله چې باد لګېده، تا د کوټې کړکۍ بندې کړې.
ته چې د څه سره مینه لرې، تل ترې تښتې.
دا هغه څه دي، چې ما ډېر ویروي ځکه چې ته هر وخت وایې چې زه ستا سره مینه لرم.
ویلیام شکسپیر

•زه همیشه د خوښۍ احساس کوم؛ تاسو پوهېږئ چې ولې؟ ځکه چې زه د هیڅ څه تمه د چا څخه نه لرم.
تمه او توقع درلودل درته همیشه درد رسوي.
ژوند ډېر لنډ دی له ژوند سره مینه ولره.خوشاله اوسه او موسکا کوه.
له خبرو کولو وړاندې غوږ ونیسه. د یو څه د لیکلو وړاندې فکر وکړه، د یو څه د لګښت کولو وړاندې عاید لاسته راوړه.
د دعا کولو وړاندې نورو ته ښښنه
کوه.
چاته د درد رسولو وړاندې احساس وکړه.
له نفرت کولو وړاندې خلکو سره مینه ولره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پرېښودلو وړاندې يو ځل بيا هم هڅه وکړه او له مرګه وړاندې ژوند وکړه.
ويليام شکسپير

## ژوند له دريو شيانو جوړ دی:

ګټل، بايلل، شريکول
١- د نورو زړونه وګټه.
٢- بد خونده شيان له لاسه ورکه.
٣- د خوښۍ شيبې له نورو سره شريکې کړه.

## درې ډوله کسان مه هېروه:

١- هغه څوک چې په سختو حالاتو کې يې له تاسو سره مرسته وکړه.
٢- هغه څوک چې په سختو حالاتو کې يې له تاسو نه مخ واړولو.
٣- هغه څوک چې تاسو په ژوند کې يې سخت حالات رامنځته کړل.

## ولې مو خلک غيبت کوي؟

١- کله چې ستا سويې ته نشي رسيدلی.
٢- کله چې کوم شيان تاسو لرئ، نور يې نلري، لکه پيسې، جايداد...
٣- کله چې غواړي ستا د ژوند کولو طريقې په ځان عملي کړي، خو نشي يې کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


•د امریکا متحده ایالاتو پخواني ولسمشر جورج بوش د مایکروسافټ کمپنۍ د مالک بیل ګیټس څخه وپوښتل،
د امریکا متحده ایالاتو زیاتره کسان بې دندې دي؛ تاسو ولې په مایکروسافټ کمپنۍ کې بهرني انجینران په کار ګمارئ؟
بیل ګیټس موسک شو. او ویې ویل که بهرني انجینران په خاصه توګه هندي انجینران په دندو ونه ګمارم، نو په هندوستان کې به یو بل د مایکروسافټ ایجادونکی پیدا شي.

## د ژوند درې مرحلې!

۱- کله چې ماشومان وئ:
انرژي مو درلوده.
وخت مو درلوده.
خو پیسې مو نه درلودې.
۲- کله چې ځوانان وئ:
انرژي مو درلوده.
پیسې مو درلودې.
خو وخت مو نه درلوده.
۳- کله چې بوډاګان وئ:
وخت مو درلوده.
پیسې مو درلودې.
خو انرژي مو نه درلوده.
ژوند عجیبه دی، هر وخت درته هر ډول مشکلات پیدا کېږي، خو د ټولو ستونزو او مشکلاتو په وړاندې د ډبرې په شان کلک واوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## که خوشاله ژوند غواړئ؟

•دهېڅ شي څخه کرکه مه کوه.

•هیڅکله تشویش مه کوه.

•تل ساده واوسه.

•نورو ته ببنښه کوه.

•ډېر څه له لاسه ورکړه ( بد عادتونه، بد ملګري...).

•تل په شونډو موسکا ولره.

•په ځان باور ولره.

•صحي خواړه وخوره.

• له منفي نظره خلکو لرې واوسه.

• په ولاړه خوراک مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# که خوشاله ژوند غواړئ؟

هره ورځ:

0=ساعته ټلویزون وګوره.

1=ساعت ورزش وکړئ.

2=لیتره اوبه وڅښئ.

3=پیالې شین چای وڅښئ.

4=ځلې لنډه دمه وکړئ.

5=ځلې کوچنۍ ناشته وکړئ.

6=بجو څخه مخته پاڅېږه هر سهار.

7=دقیقې وخانده.

8=ساعته خوب وکړه.

9=بجو څخه هره شپه مخته ویده شه.

10=وارې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## که خوشاله ژوند غواړئ؟

1-کارونه ډېر کوه، خبرې کمې کوه.

2-غوسه کمه کوه، خندا ډېره کوه.

3-تشویش کم کوه، خوب ډېر کوه.

4-موټر  کم چلوه، پلې ډېر گرځه.

5-غوښه کمه وخوره، سبزیجات ډېر وخوره.

6- الکولي مشروبات مه څښئ، چای ډېر وڅښئ.

7-خواږه شیان کم وخوره، تازه میوې زیاتې وخوره.

8-غاز لرونکي مشروبات کم وڅښه، اوبه ډېرې وڅښئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اروا پوهنه څه وايي؟

•ځینې وخت ټکسي ډریوران تاسو څخه پوښتنه کوي، چې تاسو ددې سیمې یاست؟
همیشه ورته مثبت ځواب ورکړئ (یعنې هو ورته وواياست)
ځکه چې ځینې ډریوران تاسو یوې لنډې ساحې ته په اوږدو لارو رسوي، تر څو ډیرې پیسې درڅخه واخلي.

• کله چې مو یو ښه کار وکړ، هیڅوک یې هم نه یادوي.خو کله چې مو یو ناوړه کار وکړ، نو هر څوک درپسې خپله خوله خلاصوي، او ناوړه کار مو یادوي.

• کله چې تاسو مبارزه کوئ، د په دې معنا ده چې تاسو پرمختګ کوئ .

•ستاسو په ژوند کې  ډیرې ستونزې دوه لاملونه لري ۱- کله چې کوم کار کوئ په هغه باندې فکر نه کوئ ۲- کله چې د یو څه په اړه فکر کوئ، په هغه عملې کار نه کوئ.

•د کافینو څښل ستاسو لپاره ښه ندي، ډیر چاغ کیدل هم ستا لپاره ښه ندي او د زیاتو خواږو خوړل ستا لپاره ښه ندي؛  خو تشویش مه کوه، ډیر تشویش کول هم ستاسو لپاره ښه ندي.

•تاسو به د یو چا لپاره ۹۹ کارونه کړي وي، خو هماغه شخص یوازې یو کار په یاد لري، چې تاسو ورته ندی کړی.

• هیڅوک هم ستا دردونه، اوښکې، او خفګان نه شمیري،
خو هر څوک ستا غلطۍ شمیري.


(c) ketabton.com: The Digital Library


•کله چې په ستونزو تمرکز لرئ، نو ډېرې ستونزې به ولرئ.
کله چې په اسانتیاوو تمرکز ولرئ، ډېر موقعې به ترلاسه کړئ.
• ځومره مو چې عمر ډېرېږي، همدومره مو پر خلکو باور هم کمېږي.
• دا کومه جدي خبره نده چې اوس وخت څومره ستونزمن دی.
یوه ورځ به تاسو شاته وګورئ او محسوس به کړئ چې ستاسو مبارزې ستاسو ژوند ته ډېر ښه بدلون ورکړ.

## اته نه هیریدونکي شیبې

۱-کله چې د لومړي ځل لپاره مور او پلار ته خپله تنخوا ورکړئ.
۲-کله چې د خپل نږدې او خواږه دوست سره خبرې وکړئ.
۳-کله چې د خپلې مینې سره لاس په لاس قدم وهئ.
۴-کله چې د لومړي ځل لپاره خپل نوی زیږیدلی ماشوم ښکل کړئ.
۵-کله چې دې هغه څوک په غیږ ونیسي چې تا باندې ډیر پام کوي.
٦-کله چې د خپلې مینې په هکله په اوښلنو سترګو سوچ کوئ.
۷-کله چې د ډیرې ژړا وروسته په زوره
وخاندئ.
۸-کله چې زاړو عکسونو ته ګورئ او په شونډو مو موسکا خوره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**